د افغانستان اسلامي امارت

**چارو اداري لوی ریاست**

د امارت د پالیسی معاونیت

د پالیسی او ستراتیژۍ ریاست

# د امارتي شرکتونو

# پانګونې لارښود

# 1447

# سریزه

پانګونه د معاصر اقتصاد له مهمو او بنسټیزو اصولو څخه ده، چې د اقتصادي ودې او پرمختګ بنسټ جوړوي. همدارنګه پانګونه د یوه هېواد د اقتصادي جوړښت د پراختیا او د تولید د زیاتوالي سبب کیږي، چې له لارې یې نه یوازې مالي سرچینې په اغېزمن ډول په مختلفو سکتورونو کې مصرفیږي، بلکې د خلکو د ژوند کچه او اقتصادي ثبات ته هم وده ورکوي. دا پروسه په اقتصادي لحاظ د دوامداره ودې، د کاري فرصتونو رامنځته کولو، د عوایدو د زیاتوالي او د تولنیزو بنسټیزو خدماتو د پراختیا سبب ګرځي؛ دا چې پانګونه د بشر د اړتیاوو د پوره کولو لپاره یوه ښه حل لاره ده، نو په همدې اساس د اسلام له شرعي اصولو او دیني موازینو سره سم، په ډېرو دیني نصوصو کې هم پرې امر او تشویق ده.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:﴿وَٱبۡتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنۡيَاۖ﴾ ژباړه: «کومه شتمني چې الله جل جلاله تاته درکړې ده، په هغې سره د اخرت د کور جوړولو فکر وکړه او له دنیا څخه هم خپله برخه مه هېروه» (القصص: ۷۷)

په دې مبارکه آیت کې الله سبحانه وتعالی خپل بندګان د حلال رزق په لټولو، چې د یو مسلمان د ټولنیز اقتصاد بنسټ ګڼل کیږي، امر کوي او هڅوي یې.

همداراز، د رسول الله ﷺ له احادیثو څخه هم څرګندیږي چې مسلمانان یې د تجارت او پانګونې لور ته هڅولي دي، تر دې اندازې چې یو رښتیني او امانت‌دار سوداګر یې له انبیاوو او شهیدانو سره یوځای ګڼلی دی، لکه چې فرمايي:

«التاجر الصدوق الأمين مع النبيين والصدّيقين والشهداء... » ژباړه: «رښتینی او امانت‌دار تاجر (سوداګر) به د انبیاوو، رښتینو کسانو او شهیدانو سره حشر شي.» (سنن ترمذي)

او په یوه بل حدیث کې نبي علیه السلام فرمايي «لو أن أحدكم يحتطب على ظهره خير له من أن يسأل أحداً فيعطيه أو يمنعه».

ژباړه: «که له تاسو څخه څوک لرګي راټول کړي او هغه پر خپله شا یوسي (وپلوري)، دا ددې نه غوره ده چې له بل چا څخه وغواړي، چې معلومه نه ده هغه به ورته څه ورکړي او که نه.» (صحیح بخاري)

نو له پورته نصوصو څخه څرګندیږي چې پانګونه او تجارت په اسلام کې یوازې د مادي ګټې د لاسته راوړلو لپاره نه دي، بلکې په اسلام کې دا یو دیني وجیبه ګڼل کیږي، او په امانت‌دارۍ او صداقت سره تجارت کول د اخروي درجاتو د لوړوالي سبب ګرځي.

په افغانستان کې، امارتي شرکتونه د حکومت د اقتصادي بنسټونو په توګه د عامه ګټو د برابرولو لپاره فعالیت کوي. دغه شرکتونه د ټولنې د بنسټیزو اړتیاوو لکه انرژۍ، ټرانسپورټ او تولید په برخو کې بنسټیز رول لوبوي. په تېرو څو لسیزو کې، دغه شرکتونو تر ډېره پورې د دولتي بودیجې او بهرنیو مرستو په اتکا فعالیت درلود، چې دا وضعیت یې د اقتصادي بدلونونو او نړیوالو پرمختګونو سره په مطابقت کې نه وه. د بازار د پراخېدونکې سیالۍ فشار او د هېواد د اقتصاد اوسنۍ اړتیاوې اوس د امارتي شرکتونو لپاره نوې ننګونې دي.

د دې ننګونو د حل لپاره اړینه ده، چې امارتي شرکتونه خپل کاري چوکاټونه او د پانګونې تګلارې په بنسټیز ډول بدلې کړي. په دې توګه، دوی باید د امارتي بودیجې پر ځای د خپلو منابعو او امکاناتو څخه په ګټور او مؤثر ډول استفاده وکړي، د پانګونې نوې ماډلونه او ستراتیژۍ غوره کړي، او په ځان بسیاینې او نوښت باندې تمرکز وکړي. دغه شان بدلونونه به نه یوازې د شرکتونو مالي ثبات تضمین کړي، بلکې د هغوی د سیالۍ وړتیا به هم لوړه کړي او د اقتصادي تولید په زیاتوالي کې به یې مهم رول ولوبوي. په دې اساس، د پانګونې دا لارښود به د امارتي شرکتونو لپاره یو علمي، منظم، او عملي لارښود وي چې د پانګونې په چارو کې واضح معیارونه، ستراتیژیک پلانونه، او مؤثر میکانیزمونه به وړاندې کړي.

د پانګونې په دې لارښود کې لومړی د پانګونې تعریف، موخې، اهمیت او د پیل مرحلې شاملې دي؛ ورپسې د پانګونې ډولونه او د هیواد په ملي اقتصاد د امارتي شرکتونو د پانګونې اغیز تر بحث لاندې نیول شوي، د لارښود په وروستیو کې د پانګونې خطر ، د پانګونې د خطر مدیریت او د پانګونې د ارزونې معیارونه(میتودونه) په تفصیلي ډول بیان شوي دي، چې ښيي یوه پانګونه له کومو خطرونو سره مخ کیږي او څنګه باید دغه خطرونه د پانګوال شرکت لخوا څخه دفع کړل شي او له کومو میتودونو څخه په استفادې شرکتونه کولای شي د خپلې پانګونې ارزونه وکړي ترڅو معلومه کړي چې پانګونه د شرکتونو په ګټه ده او که نه.

# لړلیک


سریزه ........................................ آ
لړلیک ........................................ 3
**د امارتي شرکتونو تاریخچه** ........................................ 7
لیدلوری او د تطبیق ساحه ........................................ 1
لیدلوری ........................................ 1
د تطبیق ساحه ........................................ 1
د پانګونې تعریف ........................................ 1
د پانګونې اهمیت ........................................ 1
د پانګونې موخې ........................................ 2
په افغانستان کې د پانګونې اقتصادي ارزښت، رامنځته شوې فرصتونه او امکانات ........................................ 3
اقتصادي ارزښت ........................................ 3
رامنځته شوي فرصتونه ........................................ 3
د پانګونې امکانات ........................................ 4
په ملي اقتصاد او ټولنه د پانګونې اغېز ........................................ 5
اقتصادي وده: ........................................ 5
د کاري فرصتونو رامنځته کول: ........................................ 5
د امارتي عوایدو زیاتوالی: ........................................ 5
عصري ماشینري او ټکنالوژۍ انتقال ........................................ 5
د ژوند د کچې لوړوالی: ........................................ 5
د امارتي شرکتونو لپاره د پانګونې فرصتونه ........................................ 5
کاني سرچینې (کانونه): ........................................ 6
انرژي : ........................................ 6
ساختماني برخه: ........................................ 6
خدمات: ........................................ 6
کرنه او مالداري: ........................................ 6
مخابرات: ........................................ 7
نساجي: ........................................ 7
درمل جوړول: ........................................ 7
د پانګونې د پیل مراحل ........................................ 7

د اهدافو ټاکل: ........ 8
تخنیکي مطالعات ........ 8
د خطر (ریسک) ارزونه: ........ 8
د مالي وضعیت ارزونه: ........ 8
د بازار او پانګونې د فرصتونو تحلیل: ........ 8
د اهدافو په اساس د غوره لارو انتخاب: ........ 8
د پانګونې خطر او د کمولو لارې چارې (د خطر مدیریت) ........ 9
د خطر او پانګې مدیریت ډولونه ........ 9
سیستماتیک خطر ........ 9
انفلاسیون: ........ 9
اقتصادي رکود: ........ 9
سیاسي او ټولنیز عوامل: ........ 9
غیرسیستماتیک خطر ........ 10
د خطر مدیریت ستراتیژي ........ 10
پانګه اچونه کې تنوع ........ 10
د بازار څېړنه او مطالعه ........ 10
مالي مشورې: ........ 10
SWOT تحلیل ........ 11
TOWS تحلیل ........ 12
د TOWS میټریکس ........ 12
د اسلام له نظره پانګونه ........ 14
د پانګونې مشروعیت ........ 14
د اسلامي فقه له نظره د پانګونې ډولونه او احکام ........ 15
۱. مضاربت ........ 15
د مضاربت ډولونه: ........ 16
مطلقه مضاربت: ........ 16
مقیده مضاربت: ........ 16
په مضاربت کې د پانګونې شرایط: ........ 16
۲. شراکت ........ 17
د شراکت حکم: ........ 17
د شراکت ډولونه ........ 18
د شراکت عقود: ........ 18

۳.مزارعت ........................................ 18
د مزارعت شرطونه: ........................................ 18
د مزارعت ډولونه: ........................................ 19
۴.اجاره ........................................ 19
د اجارې شرطونه: ........................................ 20
د اجارې ډولونه: ........................................ 20
د پانګونې ارزونه ........................................ 20
د پانګونې د ارزونې موخې ........................................ 21
د پانګونې د ګټورتیا اندازه کول: ........................................ 21
د منابعو اغېزناک تخصیص: ........................................ 21
د خطرونو پېژندنه او تحلیل: ........................................ 21
غوره انتخاب: ........................................ 21
پریکړه کول: ........................................ 21
د پانګونې ارزونې میتودونه ........................................ 22
(NPV) خالص اوسنی ارزښت ........................................ 22
د خالص اوسني ارزښت (NPV) محاسبه کولو څرنګوالی ........................................ 22
مثبت او منفي خالص اوسني ارزښت ........................................ 22
د خالص اوسني ارزښت ګټې او زیانونه ........................................ 22
IRR-داخلي عاید نرخ ........................................ 25
د داخلي عاید نرخ تعریف(IRR) ........................................ 25
د داخلي عاید نرخ (IRR) د محاسبې اهمیت ........................................ 25
د داخلي عاید نرخ (IRR) ګټې او نیمګړتیاوې ........................................ 25
د IRR ګټې: ........................................ 26
Payback Periodد تادیاتو دوره ........................................ 28
Profitability Indexد ګټورتیا شاخص ........................................ 31
دګټې شاخص (PI) تشریح ........................................ 31
د ګټې شاخص (PI) ګټې او نیمګړتیاوې ........................................ 33
د پانګونې د راستنېدو کچه(ROI) ........................................ 34
د پانګونې د راستنېدو کچې(ROI) محاسبه ........................................ 34
د پانګونې د راستنېدو کچې(ROI) ګټې ........................................ 35
1. د محاسبې آسانتیا ........................................ 35

2. پرله کول ........................................ 35
3. د ګټې ارزونه ........................................ 35
4. پریکړه کول ........................................ 35
د پانګونې د راستیدو ګټې (ROI) نیمګړتیاوې ........................................ 35
ARR – د حسابداري د عاید نرخ ........................................ 36
د حسابداري د عاید نرخ (ARR) څخه استفاده ........................................ 36
د حسابداري د عاید نرخ (ARR) محاسبه ........................................ 36
د حسابداري د عاید نرخ (ARR) ګټې ........................................ 37
د حسابداري د عاید نرخ (ARR) محدودیتونه ........................................ 38
پایله ........................................ 39

## د امارتي شرکتونو تاریخچه

دولتي شرکتونه د هېوادونو په اقتصادي پرمختګ او ځان بسیاینې، د بنسټیزو پروژو پلي کولو، خلکو ته په مناسبه بیه د توکو او خدماتو وړاندي کولو او دملي بودجې په تمویل کې ارزښتمنه ونډه لري.

د افغانستان امارتي شرکتونه چې اوس وخت په تولیدي، ساختماني او خدماتي برخو کې فعالیت ترسره کوي، د پیل لرې یې د امیر شیر علي خان د واکمنۍ پر مهال کېښودل شوه چې د لومړي ځل لپاره په ۱۲۹۰ هـ ش کال کې د نوموړي د واکمنۍ پر مهال د نن ورځې ازادي مطبوعات تاسیس او د لیتوګرافي په بڼه خپور شو، همدا راز د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال د دارالسلطنه په نوم مطبعه جوړه شوه چې فعالیتونه یې د مکتوبونو، فرمانونو او نورو دولتي پاڼو چاپول وه. له هغه وخت راهیسې د دولتي تصدیو جوړول د هېواد په اقتصادي ډګر کې اوږده سابقه لري، لکه د نظامي فابریکې جوړول، په کابل کې د پشمینه اوبدلو فابریکه، او د امیر حبیب الله خان په وخت کې د جبل السراج د برېښنا بند تاسیس او د شهید مطبعې لخوا د ورځپاڼو او مجلو چاپ یادولی شو.

همدا راز د دولتي کارکوونکو او چارواکو د کوپراتیفونو وړاندې کول، د مامورینو بیمه او داسې نور خدمات د وخت حکومتونو په مستقیمه توګه د دولتي تشبثاتو له لارې وړاندې کول، نو پورته کړنې دا په ډاګه کوي چې تصدیو په تېرو وختونو کې هېوادوالو ته غوره خدمات او اسانتیاوې برابرولې، چې په مادي او معنوي لحاظ د هېواد د اقتصادي ودې د ټرانسپورټ، ساختماني، سوداګرۍ او نورو خدماتو او تولیداتو چمتو کولو په برخه کې نه یوازې مهم رول درلوده بلکې د ملي بودیجې په تمویل کې یې د پام وړ ونډه ترسره کوله.

په ۱۳۵۴ هـ ش کال د سردا محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال کې د دولتي تصدیو قانون نافذ شو او د دغه قانون پر بنسټ پخواني انتفاعي دولتي بنسټونه او تشبثات په دولتي تصدیو بدل شول. له ۱۳۵۴ کال څخه تر ۱۳۷۰ کال پورې دولتي تصدۍ د غوره ټکنالوژۍ، ماشینونو د مسلکي او متخصصو کارکوونکو څخه برخمنې وې چې د وخت حکومتونو پام یې خاته را اړولی وو. د دغو تصدیو د پام وړ فعالیت توانېدلی و چې د خپلو خدماتو او محصولاتو په وړاندې کولو سره د خلکو او دولتي ارګانونو غوښتنو ته مثبت او د قناعت وړ ځواب ووایي او د دولت خزانې ته د پام وړ عواید ورکړي. د ملي بودیجې شاوخوا ۴۰ سلنه د تصدیو له عایداتو څخه پوره کېده، د دې ترڅنګ د تصدیو شتون په هېواد کې د فقر او بیکارۍ کچې کموالي او د هېواد د اقتصاد په تحول کې مهم رول لوباوه، نو په دې اساس ویلای شو چې د عامه تصدیو او شرکتونو شتون د فقر او بیکارۍ په ختمولو او د دولت د عاید په زیاتولو کې ځانګړی ځای او ارزښت درلود.

له بده مرغه په هېواد کې د جګړو له پیل سره د افغانستان زیاتره تولیدي او اقتصادي زېربناوې له منځه ولاړې، تصدۍ او دولتي شرکتونه هم د دې جګړو څخه سخت اغېزمن شول او د ډېرو تصدیو د فعالیتونو څرخ په ټپه و ودرید، په ۲۰۰۱ م کال کې مرکزي اقتصادي نظام په ازاد بازار بدل شو په داسې حال کې چې نظام د دولتي تصدیو لازم ملاتړ ونکړ او تصدۍ اماده نه وې تر څو په ازاد بازار کې خپل فعالیت ترسره کړي، همدا راز، په تېرو دوو لسیزو کې د وخت چارواکو د ځینو دولتي تصدیو او شرکتونو ملکیتونه په غیر قانوني ډول بلاعوضه ځینې اشخاصو ته وویشل چې دې کړنې تصدیو او دولتي شرکتونو ته سخته صدمه ورسوله.

په ۱۳۹۷ هـ ش کال کې د دولتي تصدیو قانون تعدیل او د دولتي شرکتونو په نوم قانون د کابینې له خوا تصویب شو. په ټولیزه توګه د دولتي تصدیو حقوقي شخصیتونه شرکتونو ته تغیر وکړ، د مدیریت چارو مسئولیت یې د مالیې وزارت د شرکتونو عمومي ریاست ته وسپارلې او اساسنامې یې د عدلیې محترم وزارت له لارې طي مراحل

شوي. د تصديو د حقوقي شخصيتونو د بدلون سره سره ډېرى شركتونو د پخوا په څېر خپلو فعاليتونو ته ادامه ورکړه او ونه توانېدل چې په مستقله توګه د يو شرکت په څېر خپلو فعاليتونو ته پراختيا ورکړي او د شرکتونو عمومي رياست هم ونشو کولی چې د ټولو شرکتونو مديريت په برياليتوب سره ترسره کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د راتګ سره، سکتوري وزارتونو د خپلو امارتي شرکتونو د مديريت چارې په خپل لاس کې واخستې. په دې دوه کلنه موده کې نه يوازې دا چې اړوندو سکتوري وزارتونو ياد شرکتونو ته کومه پراختيا ورنکړه، بلکې د ماليې وزارت د امارتي شرکتونو رياست هم په ياده موده کې د اړتيا وړ کاري ظرفيت د نشتون او په چارو کې يې د نورو اداراتو د مداخلې له امله کومه د قناعت وړ لاسته راوړنه نه درلوده. په داسې حال کې چې په ټوليزه توګه ټول امارتي شرکتونه نږدې ۲۰ ميلیارده ډالر سوداګريز ارزښت لري، خو په تېرو دوو لسيزو کې دې برخې ته لازمه پاملرنه نه ده شوې ترڅو هېوادوالو ته په غوره ډول توکي او خدمات وړاندې کړي او د هېواد په اقتصادي پراختيا کې اغېزمنه ونډه واخلي. نو پورته ټولو ناخوالو او ستونزو ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه مقام لازمه وګڼله چې د ټولو امارتي شرکتونو د هر اړخيز حالت څېړلو لپاره يو ځانګړی حکم صادر او کاري پلاوي په دنده وګماري؛ چې د همدغه حکم په اساس اوس ټول امارتي شرکتونه د امارتي شرکتونو د عمومي رياست تر چتر لاندې خپل فعاليتونه مخته وړي.

# ليدلوري او د تطبيق ساحه

## ليدلوري

د هيواد په توليداتو او خدماتو کې د امارتي شرکتونو ونډه او پانګونه.

## د تطبيق ساحه

ددې لارښود د تطبيق ساحه ټول امارتي شرکتونه

## د پانګونې تعريف

پانګونه په اقتصاد کې یو اساسي او ستراتيژيک مفهوم ده، چې د منابعو د تخصيص، د عوايدو د زياتوالي، او د اقتصادي ودې د تحقق لپاره ترې کار اخيستل کيږي . پانګونه په ساده اصطلاح د مالي، فزيکي يا بشري منابعو هغه ډول مصرف ته ويل کيږي، چې هدف يې د راتلونکي لپاره د لا زياتو ګټو، توليداتو او ارزښت ترلاسه کول وي.

په بله مانا، پانګونه يوه منظمه هڅه ده چې يوکې يو پانګوال شرکت، شخص او اداره خپل محدود منابع لکه پيسې، وخت، مهارت يا تجهيزات د يوه هدفمند فعاليت لپاره تخصيصوي، تر څو د اوږدمهاله اقتصادي يا ټولنيزې ګټې خاوند شي. دا فعاليتونه کيداى شي د توليد، خدمت، تعليم، روغتيا او زيربناوو په برخه کې وي.

## د پانګونې اهميت

پانګونه د هغو هيوادونو د اقتصادي ودې لپاره يو اساسي ګام دی چې ملي اقتصاد يې د کورنيو سرچينو پر ځای پر بهرنيو سرچينو متکي وي. د دغو هيوادونو اقتصاد او د خلکو د ژوند سطحه تر ډيره په وارداتو پورې تړلې وي او د وارداتو د کمېدو او بندېدو په صورت کې يې يا هرڅه ګډوډيږي، چې افغانستان يې ښه بېلګه ده.

د اقتصاد د علم له نظره، دا ډول هيوادونه بايد د يو خپلواک او مستقل اقتصاد درلودو لپاره هڅه وکړي څو په مختلفو سکټورونو کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذب کړي. د پانګونې د جلب او جذب په صورت کې کولی شي په کور دننه د توليد او محصول کچه تر هغه اندازې لوړه کړي څو يې کورنۍ اړتياوې په ښه ډول پوره شي. د کورنيو اړتياوو د پوره کېدو په صورت کې د توکو نرخونه راټيټيږي او هرڅوک يې د اخيستو توان پيدا کوي، چې دا چاره د خلکو د ژوند پر سطحه مستقيم تاثير لري. په کور دننه د توليدي ظرفيت د زياتېدو په صورت کې د محصولاتو او خدماتو عرضه زياتيږي چې په پايله کې د هيواد اقتصاد ورسره پياوړی کيږي.

پانګونه د نويو پروژو او صنعتي فعاليتونو په پيل سره په سلګونو زره نوې کاري فرصتونه رامنځته کوي او د بې کارۍ کچه ټيټوي. هغه مهال چې د يو هيواد ډېری وګړي پر کار مصروف وي، د هغوی د پېر او پلور توان پياوړی کيږي چې دا د هيواد له ملي اقتصاد سره مرسته کولی شي.

ننۍ پرمختللې ټکنالوژي د هيوادونو پر اقتصاد مستقيم اغېز لري او د هغوی د اقتصادي وضعيت ښکارندويي کوي چې ښې بېلګې يې چين او هند هيوادونه دي. يادو هيوادونو د پرمختللې ټکنالوژۍ پر مټ د اقتصادي ودې د پرمختګ بهير څو برابره چټک کړی دی. د پانګونې په واسطه هيواد ته پرمختللې ټکنالوژي راوړل کيږي چې

جوخت ورسره د تولید او پروسس کچه لوړیږي. د تکنالوژۍ پرمختګ نه یوازې تولیدي لګښتونه کموي، بلکې د محصول کیفیت هم لوړوي چې بیا ښه بازار پیدا کولی شي.

د پانګونې په مټ د تخنیکي او مسلکي کاري ځواک د روزلو لپاره ښه زمینه برابریږي. افغانستان اړ دی څو د ملي اقتصاد د ودې په موخه په مختلفو برخو کې خپل کادرونه وروزي چې د پانګونې په صورت کې دا فرصت رامنځته کېدای شي.

## د پانګونې موخې

پانګه د اشخاصو او شرکتونو له لوري د یو شمیر مشخصو موخو د ترلاسه کولو لپاره په کار اچول کیږي، ترڅو په راتلونکې کې د پانګونې د غوره مدیریت په اساس خپلو ټاکل شویو موخو ته ورسیږي او د شرکت یا شخص لپاره د شتمنۍ د زیاتوالي او مالي ثبات سبب وګرځي؛ پانګه اچونه د ډیرو موخو د لاسته راوړلو لپاره ترسره کیږي چې دلته یې موږ یو شمیر مهمه موخو ښځه یادونه کوو.

- د شتمنۍ زیاتوالی:

د شتمنۍ زیاتوالی یو له هغو مهمو موخو څخه ده، چې شرکتونه، اشخاص او سازمانونه د هغې د لاسته راوړلو لپاره پانګه‌اچونه کوي ترڅو په راتلونکې کې دا تضمین کړي چې په شتمنیو کې یې زیاتوالی راغلی.

- د پیسو د ارزښت ساتل:

د وخت په تیریدو سره د پیسو ارزښت کمیږي، پانګونه له دې سره مرسته کوي چې د پیسو واقعي ارزښت وساتل شي یا زیات شي.

- د ملي اقتصاد ملاتړ:

د شرکتونو او اشخاصو له لوري پانګونه په هیواد کې د ملي اقتصاد د ملاتړ سبب کیږي، په دې معنی چې د پانګونې په نتیجه کې د هیواد داخلي تولیدات او منابع وده کوي چې له دې سره د هیواد واردات کمیږي او برعکس په صادراتو کې زیاتوالی راځي چې د صادراتو زیاتوالی خپله په ملي اقتصاد مثبت اثر لري او د هیواد د اقتصادي ودې سبب کیږي.

- د کاري فرصتونو رامنځ ته کول:

د شرکتونو له لوري پانګونه په هیواد کې د کاري فرصتونو د رامنځ ته کیدو سبب کیږي، چې ورسره یوځای یو زیات شمیر کاري ځواک په کار کې مصروفیږي او د بې کارۍ د کچې ګراف ورسره ښکته راځي.

- د خودکفایي او ثبات تامین:

پانګونه د دې باعث کیږي چې شرکتونه خپل تولیدات زیات کړي او وکولای شي چې له دې لارې خپله بودجه د شرکت له داخل څخه برابره کړي، چې دا د شرکتونو لپاره د اقتصادي ځان بسیاینې او مالي ثبات بنسټ جوړوي.

# په افغانستان کې د پانګونې اقتصادي ارزښت، رامنځته شوې فرصتونه او امکانات

پانګونه د هر هېواد د اقتصادي ودې او ثبات لپاره بنسټيز ارزښت لري. د پانګونې په واسطه په هېواد کې د کورنې تولید او محصول کچه زیاتېږي او په مستقیم او غیر مستقیم ډول نوي کاري فرصتونه رامنځته کوي. د پانګونې په واسطه یو هېواد ته نوې ټکنالوژي راوړل کېږي، مسلکي او تخنیکي کاري ځواک روزل کېږي او د دې ټولو په پایله کې د هېواد د صادراتو کچه لوړېږي چې دا بیا پر ملي عوایدو مستقیم تاثیر لري.

د پانګونې همدې اهمیت ته په کتو اسلامي امارت د ټولو اړینو اسانتیاوو او اسانه قوانینو په وضع کولو سره هڅې پیل کړې دي، څو په مختلفو سکټورونو کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جلب او جذب کړي. په دې سره به افغانستان په راتلونکي کې د اوږدمهال لپاره په ځان بسیا او د یو مستقل او ناتړلي اقتصاد څښتن شي.

## اقتصادي ارزښت

پانګونه د هغو هېوادونو د اقتصادي ودې لپاره یو اساسي ګام دی چې ملي اقتصاد یې د کورنیو سرچینو پر ځای پر بهرنیو سرچینو متکي وي. د دغو هېوادونو اقتصاد او د خلکو د ژوند سطحه تر ډېره په وارداتو پورې تړلې وي او د وارداتو د کمېدو او بندېدو په صورت کې یې بیا هرڅه ګډوډېږي، چې افغانستان یې ښه بېلګه ده.

د اقتصاد د علم له نظره، دا ډول هېوادونه باید د یو خپلواک او مستقل اقتصاد درلودو لپاره هڅه وکړي څو په مختلفو سکټورونو کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذب کړي. د پانګونې د جلب او جذب په صورت کې کولی شي په کور دننه د تولید او محصول کچه تر هغه اندازې لوړه کړي څو یې کورنۍ اړتیاوې په ښه ډول پوره شي. د کورنیو اړتیاوو د پوره کېدو په صورت کې د توکو نرخونه راټیټېږي او هرڅوک یې د اخیستو توان پیدا کوي، چې دا چاره د خلکو د ژوند پر سطحه مستقیم تاثیر لري. په کور دننه د تولیدي ظرفیت د زیاتېدو په صورت کې د محصولاتو او خدماتو عرضه زیاتېږي چې په پایله کې د هېواد اقتصاد ورسره پیاوړی کېږي.

پانګونه د نویو پروژو او صنعتي فعالیتونو په پیل سره په سلګونو زره نوي کاري فرصتونه رامنځته کوي او د بې کارۍ کچه ټیټوي. هغه مهال چې د یو هېواد ډېری وګړي پر کار مصروف وي، د هغوی د پېر او پلور توان پیاوړی کېږي چې دا د هېواد له ملي اقتصاد سره مرسته کولی شي.

نننۍ پرمختللې ټکنالوژي د هېوادونو پر اقتصاد مستقیم اغېز لري او د هغوی د اقتصادي وضعیت ښکارندویي کوي چې ښې بېلګې یې چین او هند هېوادونه دي. یادو هېوادونو د پرمختللې ټکنالوژۍ پر مټ د اقتصادي ودې د پرمختګ بهیر څو برابره چټک کړی دی. د پانګونې په واسطه هېواد ته پرمختللې ټکنالوژي راوړل کېږي چې جوخت ورسره د تولید او پروسس کچه لوړېږي. د ټکنالوژۍ پرمختګ نه یوازې تولیدي لګښتونه کموي، بلکې د محصول کیفیت هم لوړوي چې بیا ښه بازار پیدا کولی شي.

د پانګونې په مټ د تخنیکي او مسلکي کاري ځواک د روزلو لپاره ښه زمینه برابرېږي. افغانستان اړ دی څو د ملي اقتصاد د ودې په موخه په مختلفو برخو کې خپل کادرونه وروزي چې د پانګونې په صورت کې دا فرصت رامنځته کېدای شي.

په مجموع کې پانګونه د افغانستان اقتصادي ودې ته دوام ورکوي او د هېواد د اقتصادي ثبات او سیالۍ وړتیا لوړوي، چې په نړیواله کچه د باور زیاتېدو سبب کېږي.

## رامنځته شوې فرصتونه

په یو هېواد کې د پانګونې لپاره تر ټولو اساسي شرط امنیت او سیاسي ثبات دی. لله الحمد افغانستان اوسمهال

په خپلو ټولو چارو کې خپلواک دی او دې هرڅه په اړه د اسلامي شريعت په رڼا او د خپلو ملي ګټو په پام کې نيولو سره تصميم نيسي. په هېواد کې د سرتاسري امنيت په ټينګېدو سره د پانګوالو د سر او مال تضمين شوی چې دې چارې د پانګونې لپاره ښه بستر برابر کړی.
د دولت بشپړ ملاتړ دويم هغه عامل ده چې په هېواد کې يې د پانګونې لپاره فرصت برابر کړی او پانګوال له دغه فرصت څخه په استفادې سره کولای شي چې په مختلفو برخو کې پانګونه ترسره کړي.

## د پانګونې امکانات

افغانستان د خپل جغرافيوي موقعيت، طبيعي زېرمو او کانونو له وجې د پانګونې لپاره ډېر مساعد هېواد بلل کېږي. که څه هم د تېرو څلور لسيزو جګړو پر مهال سياسي او امنيتي وضعيت يو څه ستونزې رامنځته کړې وې، خو د اسلامي امارت په بياځلې راتګ سره دا ټول خنډونه له منځه تللي او افغانستان د پانګونې لپاره خپل اقتصادي ارزښت بېرته لاسته راوړی ده.
افغانستان د طبيعي زېرمو او کانونو له پلوه بډای هېواد دی. د مسو، سرو زرو، ليتيمو، اوسپنې، نفت، ګازو او قيمتي ډبرو په شمول نايابه او قيمتي کانونه لري چې په نړيوال بازار کې ډېر ارزښت لري. د کانونو په سکتور کې پانګونه د لوړ عايد او اوږدمهاله پرمختګ لپاره يو غوره فرصت دی.
پر کانونو سربېره افغانستان د کرنې او مالداری برخو د انکشاف لپاره هم يو مساعد هېواد پېژندل کېږي. په دغو برخو کې د پانګونې ښه‌والی دا دی چې د کرنيزو او مالداری محصولاتو لپاره نړيوالو مارکېټونو ته لاسرسی اسانه کېږي. جغرافيوي موقعيت بله هغه ځانګړنه ده چې په افغانستان کې د پانګونې ارزښت دوه برابره زياتوي. افغانستان د مرکزي او جنوبي آسيا هېوادونو تر منځ پروت دی، چې دا د ټرانزيټ او سوداګرۍ لپاره يو ستراتيژيک موقعيت ګڼل کېږي. د اوسپنې پټلۍ شبکو په پراختيا، سړک جوړونه او د ټرانزيټي دهلېزونو د رامنځته کولو په برخه کې د پانګونې لوی لوی فرصتونه هم موجود دي.
د انرژۍ توليد نن ورځ په نړۍ کې د اقتصاد مهم شاخص بلل کېږي او ټول هېوادونه کوښښ کوي چې په دغه برخه کې ځان بسياينې ته ورسېږي. افغانستان هم چې تازه يې د صنعتي کېدو پر لوري لومړنې ګامونه پورته کړي، د اوبو، باد او لمريزې انرژۍ په برخو کې د پراخو سرچينو په درلودو سره د پانګونې فوق‌العاده فرصتونه لري. د انرژۍ سکټور کې پانګونه کولای شي د داخلي اړتياوو پوره کولو تر څنګ د نورو هېوادونو د اړتياوو پوره کولو په پار هم صادره شي.
پر دې سربېره افغانستان د لاسي صنايعو، ساختماني توکو، درملو، خوراکي توکو او داسې نورو برخو کې د پانګونې بې شمېره فرصتونه لري او په دغه سکټور کې د پانګونې ښېګڼه دا ده چې د يادې برخې لپاره ځوان کاري ځواک هم لري. د افغانستان ډېره برخه نفوس ځوان دی او د کار کولو ښه انرژي لري.
په هېواد کې د پانګونې فرصتونو ته په پام سره اوس د امارتي شرکتونو لپاره په دغو برخو کې د پانګونې فرصت او ارزښت يې په لاندې برخه کې تشريح کوو.

# په ملي اقتصاد او ټولنه د پانګونې اغېز

پانګونه د ملي اقتصاد او ټولنيز پرمختګ يو له بنسټيزو عواملو څخه ګڼل کېږي. هغه هېوادونه چې د پانګونې د جذب، ودې او مديريت لپاره اغېزمنې ستراتيژۍ لري، کولی شي نه يوازې خپل اقتصادي بنسټونه پياوړي کړي، بلکې د خپلې ټولنې د وګړو د ژوند کچه هم لوړه کړي. پانګونه د توليد، صنعت، کرنې، خدماتو او زيربناوو پراختيا ته لاره هواروي، چې دا بهير د اقتصادي ودې، د کاري فرصتونو رامنځته کولو، د عوايدو زياتوالي او د ټولنيز پرمختګ سبب ګرځي.
پانګونه په ملي اقتصاد او ټولنه باندې په لاندې برخو کې خپل اغېز لري:

## اقتصادي وده:

پانګونه د توليد، خدماتو او توښت ظرفيت زياتوي، پانګوال شرکتونه په دغه برخه کې د پانګونې په نتيجه کې د هېواد ناخالص کورنی توليد (GDP) زياتوي، چې په دې سره د هېواد په اقتصاد کې وده منځ ته راځي.

## د کاري فرصتونو رامنځته کول:

د هرې پانګونې پايله دا وي چې نوی کاري بازار رامنځته شي او نوې پروژې پيل شي، په افغانستان کې د بې کارۍ د کچې ګراف خورا لوړ ده او د حکومت هڅه او تمرکز په دې برخه کې دا ده، ترڅو په هېواد کې د بېکارۍ کچه راکمه کړي، د شرکتونو له لوري د پانګونې په صورت کې په هېواد کې نوي کاري فرصتونه ايجادېږي، چې له دې سره خلکو ته د کار زمينه برابرېږي او ورسره په هېواد کې د بيکارۍ د کچې ګراف ښکته راځي.

## د امارتي عوايدو زياتوالی:

د پانګونې په صورت کې امارتي شرکتونه حکومت ته ماليات، فيس، تعرفې او نور لګښتونه ورکوي، چې له دې لارې د امارت خزانې ته په کلني ډول سلګونه ميليونه افغانۍ عوايد جمع کېږي.

## عصري ماشينرۍ او ټکنالوژۍ انتقال

د شرکتونو له لوري پانګونه له خان سره هېواد ته د اړتيا له مخې نوې ټکنالوژي او عصري ماشينونه راوړي، چې د نوې ټکنالوژۍ او عصري ماشينرۍ انتقال د هېواد د داخلي توليد د کيفيت، سرعت او رقابت سطحه لوړوي.

## د ژوند د کچې لوړوالی:

په هېواد کې د پانګونې په صورت کې خلکو ته کاري فرصتونه برابرېږي او ملي اقتصاد وده کوي، بلاخره په هېواد کې د پرمختګ او ودې لامل کيږي چې له دې سره د هېواد د وګړو په ژوند کې مثبت بدلون راځي او د ژوند کچه يې لوړيږي.

## د امارتي شرکتونو لپاره د پانګونې فرصتونه

په هېواد کې له وروستيو سياسي بدلونونو وروسته د پانګونې نوي فرصتونه رامنځته شوي دي، چې له دې سره يوځای د امارتي شرکتونو لپاره هم پخپله برخه کې د پانګونې ډېر فرصتونه برابر شوي، چې که امارتي شرکتونه وکولای شي له دغو فرصتونو څخه سمه استفاده وکړي نو د هېواد لپاره به په زياته پيمانه اقتصادي ګټې لري.
د امارتي شرکتونو لپاره رامنځ ته شوي فرصتونه په لاندې برخه کې واضح کوو.

## کاني سرچيني(کانونه):

افغانستان د طبيعي زېرمو او کانونو له پلوه بډاى هېواد دى. د مسو، سرو زرو، ليتيمو، اوسپنې، نفت، ګازو او قيمتي ډبرو په شمول نايابه او قيمتي کانونه لري چې په نړيوال بازار کې ډېر ارزښت لري. د کانونو په سکټور کې پانګونه د لوړ عايد او اوږدمهاله پرمختګ لپاره يو غوره فرصت دى. په هېواد کې په کاني سکټور باندې د امارتي شرکتونو لخوا د پانګې اچونې لپاره اوس وخت ښه زمينه برابره شوې، يو شمېر امارتي شرکتونه خپل جوړښت ته په کتو کولاى شي په مختلفو کاني برخو کې پانګونه وکړي. په دغه برخه کې پانګونه په اوس وخت کې د امارتي شرکتونو، هېواد او هېوادوالو لپاره خورا لوړ اقتصادي ارزښت لري.

## انرژي :

د انرژۍ توليد نن ورځ په نړۍ کې د اقتصاد مهم شاخص بلل کيږي او ټول هېوادونه کوښښ کوي چې په دغه برخه کې ځان بسياينې ته ورسيږي. افغانستان هم چې تازه يې د صنعتي کېدو پر لوري لومړني ګامونه پورته کړي، د اوبو، باد، لمر، ډبرو سکرو او نفتي توکو څخه د انرژۍ په برخو کې د پراخو سرچينو په درلودو سره د پانګونې فوق‌العاده فرصتونه لري؛ افغانستان د انرژۍ په برخه کې لا هم په ګاونډيو هېوادونو متکي دى، او د انرژۍ د پريمانه کورنيو منابعو سربېره لا هم په کلني ډول سلګونه ميليونه ډالره د انرژۍ په واردولو مصرفوي؛ اوس امارتي شرکتونو ته په دغه برخه کې د پانګې اچونې لپاره يو لوى فرصت په لاس ورغلى چې کولاى شي، له دغه فرصت څخه په ښه ډول استفاده وکړي او د خپلې ګټې سربېره د هېواد لپاره د انرژۍ په سکټور کې د پام وړ لاسته راوړنې ولري. د انرژۍ سکټور کې پانګونه کولاى شي د انرژۍ په برخه کې د داخلي اړتياوو پوره کولو تر څنګ نورو هېوادونو ته هم ورکړل شي.

## ساختماني برخه:

زموږ ګران هېواد چې د تېرو څو لسيزو څخه په جنګ جګړو کې ښکېل وه او تر ډېره يې زيربنائي او ساختماني تاسيسات له منځه تللي، اوس د اسلامي امارت له واک ته رسيدو څخه وروسته د هېواد د زيربنائي او ساختماني برخو د جوړولو لپاره غوره فرصت برابر شوى ترڅو مو هېواد په دغه برخه کې چټک پرمختګ وکړي، نو په همدې اساس د يو شمېر امارتي شرکتونو موخو او فعاليتونو ته په کتو غوره ده ترڅو دغه شرکتونه له فرصت څخه په استفادې په دغه برخو کې پانګونه وکړي ترڅو له يوې خوا د هېواد زيربنائي او ساختماني تاسيسات ورغول شي او له بلې خوا امارتي شرکتونو په دغه برخه کې د ملي مسئوليت له مخې خپل رول ادا کړى وي.

## خدمات:

د امارتي شرکتونو د خدماتو برخه تر ډېره پراخه او وسيع ده چې کولاى شي د امارتي شرکتونو لپاره د پانګونې په برخه کې زيات فرصتونه ولري لکه د افغان پوسټ خدمات، د هوائي ټرانسپورټ خدمات، د ځمکني ټرانسپورټ خدمات، هوټلونه او نور هغه برخې دي چې امارتي شرکتونه کولاى شي په دغه برخه کې د پانګونې له لارې پراخ خدمات وړاندې کړي ترڅو شته ستونزې او مشکلات رفعه او هېوادوالو ته لازم سهولتونه رامنځ ته کړي؛ ددې ترڅنګ په خدماتي برخه کې پانګونه د امارتي شرکتونو لپاره ښه عايداتي سرچينه هم ګڼل کېداى شي.

## کرنه او مالداري:

افغانستان چې تر ډېره يې د خلکو اقتصاد په کرنه او مالدارۍ ولاړ ده، نو په همدې اساس امارتي شرکتونه کولاى شي له بزګرانو څخه د دوى د کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو د اخيستلو په برخه کې پانګونه وکړي، چې په دې ډول به له يوې خوا د بزګرانو کرنيز او د مالدارۍ محصولات په وخت او مناسبه بيه بازار ته لاره پيدا کړي

او له بلې خوا به د اړونده امارتي شرکتونو په فعالیتونو او عوایدو کې پراختیا او پرمختیا رامنځ ته شي.

## مخابرات:

اوس وخت چې د حکومتونو او ملتونو په ورځنیو فعالیتونو کې مخابرات خپل رول ادا کوي نو په همدې سلسله کې په افغانستان کې هم مخابراتي شبکې له ځانګړي ارزښت څخه برخمن دي، د مخابراتي شبکو دغه ارزښت ته په کتو امارتي شرکتونه کولای شي په دغه برخه کې په پراخه کچه پانګونه وکړي او خپله ګټه او خلکو ته د خدماتو رسولو اهداف ورځخه ترلاسه کړي.

## نساجي:

په افغانستان کې د نساجي په برخه کې امارتي شرکتونو ته ګڼ فرصتونه موجود دي، چې که ترې سمه ګټه واخیستل شي، کولای شي د هېواد د اقتصادي ودې، کاري فرصتونو زیاتوالي او صادراتو پراخېدو سبب شي. افغانستان د پنبې د تولید لپاره مناسبه اقلیمي فضا لري، او په شمالي ولایتونو کې د پنبې کرکیله یو بشپړ فعالیت بلل کیږي، چې دا د نساجي صنعت لپاره مهم خام مواد چمتو کوي. همداراز د ارزانه کاري ځواک شتون، د داخلي بازار لوړه تقاضا، او د پخوانیو نساجي فابریکو شتون (لکه ګلبهار، پلخمري او بګرامي نساجي) داسې فرصتونه دي چې د امارتي شرکتونو لوی ریاست کولای شي د امارتي شرکتونو په واسطه له هغه څخه د تولیداتو زیاتوالي او د فابریکو د بیا فعالولو په برخه کې استفاده وکړي. له بل پلوه، د عامه تدارکاتو له لارې د کورنیو چارو وزارت او ملي دفاع وزارت، اړتیاوې پوره کول، دا ټول هغه عوامل دي چې امارتي شرکتونه پرې تکیه کولی شي او خپل تولیدات لوړ، متنوع او بازار موندونکي کړي. سربېره پر دې، د حکومت پالیسي چې پر وارداتو د اتکا کمولو او داخلي تولیداتو ته د لومړیتوب ورکولو ملاتړ کوي، د نساجي سکتور لپاره یوه بله مهمه موقع ده چې باید امارتي شرکتونه ترې پوره ګټه واخلي.

## درمل جوړول:

په هیواد کې د دوا جوړولو (درملو تولید) په برخه کې د امارتي شرکتونو لپاره پراخ فرصتونه موجود دي، افغانستان اوس مهال د درملو یوه ډېره زیاته برخه له نورو هیوادونو لکه پاکستان، هند، ایران، چین او نورو څخه واردوي، چې دا کار له یوې خوا د هیواد لپاره غیر اقتصادي ده او له بلې خوا د بې کیفیته درملو د زیاتیدو لامل شوی؛ امارتي شرکتونه کولای شي له موجودو فرصتونو څخه په استفادې د پانګونې په واسطه د درملو داخلي تولید ته وده ورکړي ، د عامه سکتور لخوا د روغتیا د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د داخلي تولیداتو اولویت کول، د دوا جوړونې سکتور ته دا فرصت ورکوي چې له ثبات او اوږدمهاله بازار څخه برخمن شي. په ټوله کې، د دوا صنعت نه یوازې یو اقتصادي فرصت دی، بلکې د روغتیا لپاره هم یو ستراتیژیک سکتور ګڼل کیږي، چې امارتي شرکتونه یې باید د پانګونې لپاره په منظم ډول استفاده کړي.

## د پانګونې د پیل مراحل

پانګونه د شتمنیو د ارزښت د ساتلو او زیاتولو لپاره یوه له اغېزمنو لارو څخه ده، انفلاسیون (پیسو د ارزښت کمښت) او د وخت په تېرېدو سره د پیسو د قوت کمېدو ته په کتو، ډېری شرکتونه او اداري هڅه کوي چې د خوندي او ګټوري پانګونې لارې پیدا کړي، خو د دوې لپاره د پانګونې پیلول، په ځانګړې توګه هغه یو شمیر شرکتونو ته چې په دې برخه کې کافي معلومات نه لري، یوه ننګونه ګڼل کیږي. د پانګونې د پیل څرنګوالي او د مناسبو لارو انتخاب، کولای شي د یو شرکت په مالي بریا کې ډېر رول ادا کړي.

پانګه اچونه له کومه ځایه پیل کړو؟ دا کیدای شي تر ټولو اساسي او ستونزمنه پوښتنه وي، چې د پانګه اچونکو شرکتونو په ذهن کې هم موجوده وي، د پانګونې بېلابېلې او پراخې لارې، اغېزمن عوامل او له پانګونې سره تړلې خطر (ریسک) ددې لامل شوی چې داخلېدل یې اسانه نه دي.

د دې لپاره اړینه ده چې لومړی بېلابېل مفاهیم لکه خطر (ریسک) او تاوان وپېژنو، بېلابېل بازارونه تحلیل کړو؛ دا پړاوونه د پانګونې د بهیر اصلي مراحل ګڼل کېدای شي، خو باید دا هم ومنو چې د یوې دقیقې او مسلکي پانګونې لپاره، چې مورډ ته مناسبه ګټه راوړي، یوازې دغه مراحل کافي نه دي، یو شمېر نور پړاوونه هم شته چې یو شرکت یې باید له پانګې اچونې څخه وړاندې ترسره کړي، په لاندې برخه کې به یې موږ هر یو په تفصیل سره بیان کړو.

## د اهدافو ټاکل:

هر شرکت باید له پانګونې څخه مشخص او سنجول شوي اهداف ولري، دا اهداف باید د شرکت د عمومي ماموریت، لید(vision) ، او ستراتیژۍ سره هم‌غږي ولري، ترڅو وکولای شي د خپل مشخص شوي هدف سره سم د پانګونې امکانات برابر کړي، د اهدافو ټاکنه د پانګونې د بریالیتوب لپاره مهم او ستراتیژیک ګام دی، دا له شرکتونو سره مرسته کوي چې خپلو مالي موخو ته په منظمه توګه ورسېږي.

## تخنیکي مطالعات:

د اهدافو له ټاکلو وروسته باید یوه پانګوال شرکت د پانګونې لپاره لومړني تخنیکي مطالعات ترسره کړي ترڅو معلومه کړي چې ایا دغه پروژه له تخنیکي اړخه د تطبیق وړ ده که،د پانګونې تخنیکي مطالعات، د پانګونې د پروژو د تخنیکي اړخونو جامع ارزونه ده، په دې مطالعاتو کې د پروژې د پلي کولو د امکاناتو او تخنیکي اړتیاو مفصل بیاکته او تحلیل شامل دي؛ په تخنیکي مطالعاتو کې د پانګوال شرکت لپاره د ماهر او تخنیکي ټیم شتون تر ټولو ضرور ده.

## د خطر (ریسک) ارزونه:

خطر(ریسک) د ګټې او تاوان ترمنځ اړیکې ته ویل کېږي، که چېرې د ګټې نسبت د تاوان په پرتله لوړ وي، نو ویلای شو چې د دې حالت خطر کم دی، خو که د ګټې احتمال د تاوان په پرتله ټیټ شي، نو دا ښيي چې د دې پانګونې خطر زیات دی.

هغه ټکي چې د پانګونې په وخت کې باید ورته پام وشي دا دي چې همدغې اړیکې ته په کتو، موږ کولای شو د پانګونې بېلابېل هدفونه او فرصتونه وپېژنو. مثلاً، کله چې یو شرکت وغواړي یو پانګوال سبد [1] (Portfolio) جوړ کړي او د پانګونې بېلابېل موقعیتونه تشخیص کړي، باید د پانګونې عمومي مثبته ګټورتیا په نظر کې ونیسي.

له همدې امله، که یو شرکت یو لوړ خطر لرونکی فرصت غوره کوي، تر دې دا ښه ده چې یو شمېر ټیټ خطر لرونکي فرصتونه انتخاب کړي، څو د پانګونې عمومي لوری مثبت او متوازن پاتې شي.

## د مالي وضعیت ارزونه:

له پانګونې وړاندې باید شرکت خپل مالي وضعیت، د پورونو اندازه، او د پانګونې لپاره موجوده بودیجه و ارزوي ترڅو پوه شي چې څومره پانګه اچونه کولی شي او د پانګونې په جریان کې له مالي ستونزو سره نه مخ کېږي.

## د بازار او پانګونې د فرصتونو تحلیل:

د یوې کامیابه پانګونې لپاره ښکار ده چې د پانګونې څخه وړاندې د پانګونې بازار او د پانګونې د فرصتونو سم تحلیل ترسره شي، ترڅو یو شرکت وکولای شي د خپلې پانګې لپاره د بازار او فرصتونو له تحلیل وروسته د پانګونې د ډول انتخاب وکړي چې له دې سره به پانګونه د بازار له ټولو اصولو سره برابره وي او شرکت به وکولای شي د بازار او پانګونې فرصتونو د ښه تحلیل په صورت کې یوه کامیاب پانګونه ولري.

## د اهدافو په اساس د غوره لارو انتخاب:

د پانګې اچونې له موخو سره سم د داسې لارو او ستراتیژیو غوره کول ترڅو یو شرکت وکولای شي د بریالیتوب او ناکامۍ په وخت کې وپوهېږي چې د بریالیتوب راز یې د کومې غوره لارې او ستراتیژۍ

انتخاب وه او د ناکامۍ عامل یې کومه استراتیژي او لاره وه؛ د غوره لارو او ستراتیژیو انتخاب کولای شي یو شرکت ته دا توانایي ورکړي ترڅو خپله پانګه په ښه ډول سره مدیریت کړي.

## د پانګونې خطر او د کمولو لارې چارې(د خطر مدیریت)

پانګونه د شتمنۍ د ودې او ګټې د لاسته راوړلو لپاره یو غوره فرصت ده، ولې دغې فرصت په څنګ کې پانګونه له خطراتو څخه خالي نه ده. په پانګونه کې د بریالیتوب اندازه د خطر له مدیریت او څرنګوالي سره تړلې ده. د خطر مدیریت اصلي موخه د اصلي پانګې ساتل، د احتمالي تاوانونو کمول او د ګټې زیاتول دي.
ډیرې پانګه اچوونکي، په ځانګړې توګه نوي راغلي کسان، فکر کوي چې د بریالیتوب بوازینۍ لاره د ګټورو شتمنیو غوره کول دي؛ پداسې حال کې چې د خطر کنټرول د پانګې ساتلو او ودې لپاره یو ډیر مهم عامل ده. یو مسلکي پانګه اچوونکی، مخکې له دې چې د پانګونې په موخه بازار ته داخل شي، لومړی د خطر کچه معاینه کوي او بیا د بازار خطر ته د لیدلو پر اساس مناسبه ستراتیژي غوره کوي.
په پانګونه کې د خطر مدیریت د خطر عواملو پیژندل ، د هغوی د کچې اندازه کول، او د هغوی د منفي اغیزو کمولو لپاره د مناسبو وسیلو کارولو په معنا ده. وسایل لکه په پانګونې کې تنوع، د تاوان اندازه ټاکل، له مالي متخصصینو سره مشوره او د پانګونې مدیریت، کولی شي د خطر کمولو کې مرسته وکړي.

## د خطر او پانګې مدیریت ډولونه

د پانګونې په نړۍ کې، خطر او د پانګونې مدیریت د بریکړې کولو دوه اصلي عوامل دي؛ پانګه اچوونکي د ګټې د لوړولو او تاوان د کمولو په هڅه کې وي ، مګر په دې برخه کې د بریالیتوب لپاره، دوی باید لومړی د خطر ډولونه وپیژني، د پانګې اچونې د خطر مدیریت کې د خطرونو پیژندل، تحلیل او کنټرول شامل دي.
د پانګونې خطرونه په دوو عمومي برخو ویشل شوي دي:

### سیستماتیک خطر

دا ډول خطر د لویو اقتصادي او سیاسي عواملو سره تړاو لري او په ټول مالي بازار اغیز کوي، پانګوال شرکتونه نشي کولای چې سیستماتیک خطر له منځه یوسي، بلکې د شرکت لخوا د پانګونې تنوع کولی شي اغیز یې کم کړي، د سیستماتیک خطر یو شمیر عوامل په لاندې ډول:

### انفلاسیون:

د انفلاسیون د کچې زیاتوالی د پیسو ارزښت کموي، د تولید لګښتونه لوړوي او د اخیستونکو(مشتریانو) د اخیستلو ځواک کموي چې په پایله کې د شرکتونو د ګټې د کمیدو لامل کیږي. شرکتونه نشي کولای په بازار کې انفلاسیون له منځه یوسي بلکې ددغې ستونزې حل د حکومتونو د پولي سیاستونو پورې تړاو لري.

### اقتصادي رکود:

کله چې په یوه هیواد کې اقتصادي رکود منځ ته راشي، د توکو او خدماتو غوښتنه(تقاضا) کمیږي، ناخالص کورنی تولید (GDP) نزولي سیر خوانه ځي او د بیکارۍ کچه کې زیاتوالی راځي، چې دا عوامل د شتمنیو د ارزښت د ټیټیدو لامل کیږي.

### سیاسي او ټولنیز عوامل:

د حکومت پریکړې، د مالیې په قوانینو کې بدلونونه، اقتصادي بندیزونه، ټولنیزې ناکرارۍ، جګړې او جیوپولیټیک بحرانونه هغه عوامل دي چې مالي بازارونه اغیزمنوي او د شتمنیو د ارزښت د ټیټیدو لامل کیږي.

## غیرسیستماتیک خطر

غیر سیستماتیک خطر یو داسې مالي یا سوداګریز خطر دی چې یوازې د یوه ځانګړي شرکت، سازمان او پروژې پورې محدود وي، او ټول بازار یا د اقتصاد عمومي حالت پرې اغېزه نه لري. دا خطرونه عموماً د شرکتونو د داخلي ستونزو یا ځانګړو شرایطو له امله رامنځته کېږي، او له همدې امله د **تنوع** (Diversification) له لارې کنټرول یا کمېدای شي.
ددغو خطرونو یو شمېر یې په لاندې ډول دي:

### د سوداګرۍ خطر :

د غیر سیستماتیک خطرونو له ډلې د شرکتونو مالي او عملیاتي ستونزې لکه د ګټې کمېدل، د سوداګرۍ ماډل کې بدلونونه یا بازار ته د سیالانو داخلېدل شامل دي.

### مالي خطر :

د شرکتونو د پانګې جوړښت ، د پوروونو زیاتوالي، او د مکلفیتونو د ورکړې ناتوانايي پورې اړه لري.

### د مدیریت خطر :

د شرکتونو د مدیره پلاوو لخوا غلطې پرېکړې، کولی شي د هغې د ونډو ارزښت کم کړي.

## د خطر مدیریت ستراتیژي

د پانګونې په برخه کې د بریالیتوب لپاره، د پانګه والو شرکتونه لپاره د خطر مدیریت ستراتیژي خورا له غوره انتخابونو څخه ده چې کولای شي په اساس یې د پانګونې لپاره په بازار کې موجود خطرونه راکم او یا هم له منځه یوسي، د خطر مدیریت ځینې خورا مهمې ستراتیژۍ عبارت دي له:

### پانګه اچونه کې تنوع

په پانګونه کې تنوع په دې معنی ده، چې یو شرکت څخه کوي د پانګونې لپاره مختلف موقعیتونه د ځان لپاره پیدا کړي او ددغو موقعیتونو په اساس په بازار کې پانګونه وکړي، د غیر سیستماتیک خطر کمولو لپاره تر ټولو مهمه او مؤثره لاره دا ده چې د شرکت د پانګونې ډول متنوع وي، د شرکت له لورې په مختلفو ځایونو کې د شتمنیو په تخصیص کولو سره، شرکت کولی شي د شتمنی د ضایع کېدو مخه ونیسي.

### د بازار څېړنه او مطالعه

د یو شرکت له لورې د پانګونې څخه وړاندې غوره ده، چې بازار په سم ډول مطالعه شي، ترڅو پانګه اچونکو شرکتونو ته د اقتصادي شرایطو، بازار او د شرکتونو فعالیت معلومات په دقیق ډول وشي او وروسته د پانګونې په برخه کې پرېکړه وکړي، د بازار دقیق مطالعه شرکتونو ته د پرېکړې کولو لپاره مختلف انتخابونه ورکوي چې دا کار کولای شي د خطر په کمولو کې مرسته وکړي.

### مالي مشورې:

یوه بله ګټوره کړنه چې یو شرکت یې د پانګونې د پیل لپاره کولای شي، له هغو مالي مشاورینو څخه مشوره اخیستل دي چې د پانګونې په برخه کې ډېر علم او تجربه ولري، که شرکت وغواړي په بازار کې پانګونه ترسره کړي څو سم معلومات ونلري، نو کولای شي مالي مشاورینو څخه مرسته وغواړي ترڅو هغوی له خپل مالي تخصص او تجربې څخه په استفادې شرکت ته د مناسب بازار او مناسبې پانګونې مشوره ورکړي چې له دې سره به شرکت وکولای شي یوه بریالۍ پانګونه ولري.

# SWOT تحلیل

SWOT تحلیل یو مهم ستراتیژیک تکنیک دی چې پانګوال شرکتونه، اداري او سازمانونه یې د خپل وضعیت د ارزونې، د پرمختګ لارو پیدا کولو او خطرونو سره د مبارزې لپاره کاروي. SWOT تحلیل یو ساده خو مؤثر ستراتیژیک تحلیل دی چې د یوې پانګیزې پروژې یا پانګوال شرکت قوتونه (Strengths) ، ضعفونه (Weaknesses) ، فرصتونه (Opportunities) ، او ګواښونه (Threats)ارزوي. دا تحلیل مرسته کوي چې پانګوال شرکتونه د خپلې پروژې یا پلان ټول مثبت او منفي اړخونه په متوازن ډول تحلیل کړي او د پانګونې په برخه کې غوره تصمیم ونیسي.

دا تحلیل له څلورو برخو څخه جوړ دی:




**قوتونه**

**د قوت نقطې** ، هغه مثبتې ځانګړتیاوې، مهارتونه او شته امکانات دي چې یو شرکت یا اداره یې لري او کولی شي د پرمختګ، سیالۍ او لاسته راوړنو لپاره ترې ګټه واخلي؛ دا هغه داخلي عوامل دي چې شرکت/سازمان ته ځواک ورکوي او له نورو سره یې توپیر پرې کیږي.

**کمزورتیاوې**

**د کمزورتیا نقطې** هغه منفي داخلي عوامل، نیمګړتیاوې یا ستونزې دي چې یو شرکت یا اداره یې لري. دا عوامل بې د پرمختګ، ګټې، یا سیالۍ له لاره خنډ ګرځي. دا هغه برخې دي چې باید وپېژندل شي او د اصلاح لپاره یې هڅه وشي.

**فرصتونه**

**فرصتونه** هغه بهرني شرایط یا امکانات دي چې یو شرکت، اداره یا پانګوال یې کولی شي د ودې، پراختیا، بازار لیږي یا نوې پانګونې لپاره وکاروي. دا فرصتونه د چاپېریال، بازار، ټکنالوژۍ، سیاست، یا اقتصادي وضعیت له بدلون څخه پیدا کیږي.

**ګواښونه**

**ګواښونه** هغه بهرني عوامل یا شرایط دي چې یو شرکت، اداره یا پانګوال یې نشي کنټرولولی. خو دا عوامل د دوی فعالیت، عواید، شهرت، یا بازار ته خطر پېښولی شي. ګواښونه د شرکت د بقاء او پرمختګ پر وړاندې خنډونه جوړوي او باید جدي واخیستل شي.

# TOWS تحلیل

TWOS تحلیل د پلان جوړونې یو ستراتیژیک تخنیک دی، چې د SWOTتحلیل له پایلو څخه استفاده کوي، تر څو د سازمان یا پروژې لپاره عملي ستراتیژۍ طرحه کړي. دا تحلیل د SWOT څلور برخې (Strengths) قوتونه، (Weaknesses) کمزورتیاوې، (Opportunities) فرصتونه او ( Threats) ګواښونو ترمنځ اړیکې تحلیلوي او پر بنسټ یې عملیاتي پلانونه جوړوي. د TOWS تحلیل هدف د یوې ادارې داخلي قوتونه او کمزورتیاوې د بهرنیو فرصتونو او ګواښونو سره یوځای ارزول دي.

## د TOWS میټریکس

د TOWS میټریکس د څلورو برخو څخه جوړ دی:

| | OPPORTUNITIES | THREATS |
|---|---|---|
| STRENGHTS | SO<br>یو سازمان یا شرکت څنګه کولای شي چې د قوتونو په کارولو سره له فرصتونو څخه سمه استفاده وکړي. | ST<br>یو سازمان یا شرکت څنګه کولای شي چې له خپلو قوتونو څخه په استفادې له ګواښونو څخه ځان وساتي. |
| WEAKNESS | WO<br>یو شرکت یا سازمان څنګه کولای شي خپل د ضعف نقطې راکمې کړي او له شته فرصتونو څخه استفاده وکړي. | WT<br>یو سازمان یا شرکت څنګه کولای شي چې د خپلو ضعفونه په کمولو سره له شته ګواښونو څخه ځان وساتي. |

# TOWS Matrix Template

| | | داخلی فکتورونه | |
|---|---|---|---|
| | | STRENGHTS | WEAKNESS |
| بهرني فکتورونه | OPPORTUNITIES | **SO Strategies**: هغه ستراتیژي ده چې يو سازمان کولی شي د خپلو موجودو قوتونو پر بنسټ له موجودو فرصتونو څخه سمه ګټه واخلي. | **WO Strategies**: دا ستراتیژي هڅه کوي چې د يوه سازمان يا شرکت ضعفونه اصلاح کړي ترڅو له موجودو فرصتونو څخه ګټه واخيستل شي. |
| | THREATS | **ST Strategy**: دلته يو سازمان يا شرکت له خپل قوت څخه ددې لپاره استفاده کوي چې په بازار کې شته ګواښونو سره مقابله وکړي او يا يې له منځه يوسي. | **WT Strategies**: دا ستراتیژي يو سازمان يا شرکت ددې لپاره پکار اچوي ترڅو خپل ضعفونه راکم کړي او له موجوده ګواښونو څخه ځان وژغوري. |

# د اسلام له نظره پانګونه

## د پانګونې مشروعیت

الله سبحانه وتعالی د حلال رزق د ترلاسه کولو او د ژوند د اړتیاوو د برابرولو لپاره یو ټاکلی چوکاټ وضع کړی، خو بندګان یې د همدې چوکاټ په حدودو کې تجارت او راکړه ورکړه وکړي او د نورو انسانانو له مادي او معنوي حقونو څخه ځان وساتي.

په مشروع تجارت او پانګونه کې، الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم) مختلف آیتونه او احادیث بیان کړي، چې دا نصوص مسلمان تاجران، کسبه کاران او پانګه وال تشویقوي او رهنمایي کوي.

لاندې یو شمیر آیتونه او احادیث په د غه برخه کې وړاندې کوو:

1. ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴾ [النساء: 29]په دې آیت کې الله تعالی مؤمنان منع کوي چې د یو بل مالونه په ناحقه ونه خوري، او یوازینی مشروعه لاره یې د متقابل رضایت پر بنسټ سوداګري بللې ده.
2. ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ [الجمعة: 10]په دې آیت کې الله تعالی خپلو بندګانو ته امر کوي چې د لمانځه له پای وروسته په ځمکه کې خپاره شي او د الله له فضل څخه وغواړي. دا فضل د تجارت، کار او مشروع پانګونې له لارې تر لاسه کیدونکې روزي او ګټه ده.
3. ﴿ وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَى بِمَاءٍ وَاحِدٍ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴾ [الرعد: 4]الله تعالی په دې آیت کې له باغونو، کرنیزو ځمکو او د خرما له نیالګیو یادونه کوي، تر څو انسانان له دې منابعو څخه استفاده وکړي او په دې ساحه کې پانګونه او داد و ستد وکړي.

د پورته آیتونو له مخې ښکاري چې الله تعالی خپل بندګان حلالې پانګونې او تجارت ته هڅوي او له ناحقه ګټې اخیستنې یې منع کړي دي. همداراز، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د اسلامي اصولو مطابق تجارت او پانګونه ستایلې او مسلمانان یې ورته هڅولي دي. لاندې یې یو څو احادیث وړاندې کوو:

1. قال النبی صلی الله علیه وسلم: (التاجرُ الأمین الصَّدوق مع النبیِّین والصدِّیقین والشهداء) أحمد في المسند 334/2، البیهقي في شعب الإیمان 107/1،یعنې: رښتینی او امانت دار تاجر به د پیغمبرانو، صدیقانو او شهیدانو سره په قیامت کې یوځای وي، دا یوه لوړه درجه ده چې الله تعالی یې تاجرانو او پانګه والو ته ورکړې.
2. عن عبدالله بن عمر - رضي الله عنهما - قال: سُئِل النبي -صلى الله علیه وسلم- عن أطیب الکسب، فقال: (عملُ الرجل بیدِه، وکل بیع مبرور) أخرجه الترمذي رقم 1209،په دې حدیث شریف کې یادونه شوې چې د انسان لخوا په خپلو لاسونو سره کار کول، او هر هغه تجارت چې ریښتینی او حلال وي، غوره کسب دی.
3. قال رسول الله صلى الله علیه وسلم-: (لأن یأخُذ أحدُکم أحبُلَه فیأتي الجبلَ، فیجيء بحُزمةِ حطبٍ على ظهره، فیبیعها ویستغني بثمنها - خیرٌ له من أن یسألَ النّاسَ أعطَوْه أو منَعُوه) أخرجه البخاري؛ کتاب البیوع، باب کسب الرجل وعمله بیده، 355/4 فتح.ترجمه: دا چې یو څوک خپله رسۍ واخلي، غره ته ولاړ شي، له غره څخه د لرګیو یوه غونچه راوړي، ویې پلوري او د هغې له قیمته ځان بسیا کړي، دا له دې غوره ده چې له خلکو څخه

وغواړي، که يې ورکړي يا يې ورنکړي.دا حديث مسلمانان له ګدايي کولو منع کوي او هغوی هڅوي چې په خپلو لاسونو کار وکړي او خپل مشروع عايد ولري.

پورته نصوص په ټوله کې په حلال تجارت او پانګونه تاکيد کوي او مسلمانان يې دغې برخې ته هڅولي.

## د اسلامي فقه له نظره د پانګونې ډولونه او احکام

په دې کې چې کوم عقدونه د پانګونې په چوکاټ کې راځي او کوم يې زيات د تمليک او تملک بڼه لري، د پخوانيو او معاصرو فقهاؤو ترمنځ يې اختلاف شته. معاصر فقهاء دا نظر لري چې هر هغه عقد چې يوه اړخ ته ګره يا نامقصوده ګټه ورسوي، بيا هم د پانګونې برخه ګڼل کيږي. خو پخواني فقهاء د معاصرو فقهاؤو په پرتله محدود نظر لري، او يوازې هغه عقدونه يې د پانګونې برخه بللي چې موخه يې د مال او پانګې زياتوالی وي، نه صرف تمليک يا تملک.

له همدې امله، فقهاء داسې عقدونه لکه مضاربت، شراکت، مزارعت، مرابحه او ورته نور چې له استنماء، اثتماء، او نماء اصطلاحاتو سره تعبير شوي، د پانګونې له ډولونو ګڼي، او هغه نور عقدونه چې پکې د تمليک او تملک اړخ غالب وي، د پانګونې په دايره کې نه راولي.
له همدې امله، دلته هڅه کيږي چې د پخوانيو فقهاؤو له نظره د پانګونې ډولونه په لنډ ډول مطرح شي، څو لوستونکي د اسلامي پانګونې د ماډلونو يا ډولونو په اړه يو عمومي اخذ ترلاسه کړي.
لاندې د پانګونې ډولونو ته اشاره کيږي:

## ۱ .مضاربت

**لغوي تعريف**"مضاربت" د "ضرب فی الأرض" څخه اخيستل شوی مفهوم دی، چې معنا يې په ځمکه کې ګرځېدل يا سفر کول دي.
**اصطلاحي تعريف**:مضاربت يو داسې عقد (قرارداد) دی چې پکې يوه خوا سرمايه برابروي (چې رب المال ورته ويل کيږي) او بله خوا عملي کار کوي (چې ورته مضارب ويل کيږي)، او هغه ګټه چې تر لاسه شي، د دواړو تر منځ د پخوا له هوکړې سره سم ويشل کيږي.(رد المحتار، ۶۴۵/۵)

**د مسئلې توضيح**:مضاربت يوه تجارتي معامله ده چې د دوو اړخونو ترمنځ ترسره کيږي. يوه اړخ مالي پانګه لري او د اصلي پانګه‌وال په توګه پيژندل کيږي، او بله خوا مالي پانګه نه لري، خو د کار مخته وړلو مسؤليت لري. پانګه‌وال (رب المال) يوازې خپله سرمايه ورکوي، او په تجارت کې د عملي چارو مسؤليت نه لري، خو مضارب (هغه څوک چې کار کوي) مالي برخه نه ورکوي، خو د تجارت ټول مسؤليت يې پر غاړه وي.
که چيرې تجارت ګټه وکړي، نو دواړه لوري له مخکې ټاکلې فيصدۍ سره سم خپله ګټه ترلاسه کوي.خو که ګټه و نه شي،نو اصلي سرمايه بيرته د پانګه‌وال وي،او د کار کوونکي (مضارب) زحمت يې ګټې ګڼل کيږي، له اصلي پانګې څخه هيڅ حق نه لري.
همدا راز، که چيرې تجارت تاوان وکړي، نو دا تاوان به له اصلي پانګې څخه کميږي،او مضارب (کار کوونکی) ته به تاوان نه ور ايستل کيږي،تر هغو پورې چې په قصداً تقصير يا خيانت کې ښکيل نه وي. په مالي زيان مسؤل نه ګڼل کيږي.

### د مضاربت شرعي حکم

ټول فقهاء د لاندې دلايلو پر بنسټ مضاربت مشروع (جايز) ګڼي:

### ۱ . د قرآن دليل:

﴿وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ﴾ [المزمل: 20]

**ژباړه**:او نور داسې کسان دي چې په ځمکه کې ګرځي، د الله فضل لټوي.له فضل څخه مراد ګټه او روزي ده.
همدغه ډول چې الله سبحانه وتعالی په دې آيت کې بيان کړي، مضارب (هغه څوک چې د مضاربت په معامله کې عملي کار کوي) هم د ځمکې پر مخ سفر کوي، تر څو

د الله فضل او حلاله روزي تر لاسه کړي. (بدائع الصنائع، ج ٦، ص ٧٩)

### ۲ . د حديث دليل:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ ، أَنَّهُ قَالَ، :كَانَ سَيِّدُنَا الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ إِذَا دَفَعَ الْمَالَ مُضَارَبَةً، اشْتَرَطَ عَلَى صَاحِبِهِ أَنْ لَا يَسْلُكَ بِهِ بَحْرًا وَلَا يَنْزِلَ بِهِ وَادِيًا، وَلَا يَشْتَرِيَ بِهِ دَابَّةً ذَاتَ كَبِدٍ رَطْبَةٍ، فَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ ضَمِنَ فَبَلَغَ شَرْطُهُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ فَأَجَازَ شَرْطَهُ ،وَكَذَا بُعِثَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ وَالنَّاسُ يَتَعَاقَدُونَ الْمُضَارَبَةَ فَلَمْ يُنْكِرْ عَلَيْهِمْ وَذَلِكَ تَقْرِيرٌ لَهُمْ عَلَى ذَلِكَ؛ وَالتَّقْرِيرُ أَحَدُ وُجُوهِ السُّنَّةِ. بدائع الصنائع ٦ / ٧٩)

**د حديث ترجمه:** حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت کوي: زموږ مشر حضرت عباس بن عبدالمطلب (د رسول الله ﷺ تره) به چې کله خپل مال د مضاربت پر بنسټ بل چا ته ورکاوه، دا شرطونه به يې لګول چې:
پيسه به بحر ته نه وړي، په خطرناکو درو کې دي پرې نه وځي، او داسې ژوی دې پرې نه پيري چې تازه ځيګر ولري (لکه ژوندي څاروی). که دا شرطونه يې مات کړل، د تاوان ضمان به يې پر غاړه وي. کله چې دا معاملوي طريقه رسول الله ﷺ ته ورسېده، نو هغه ﷺ دا شرطونه تاييد کړ..رسول الله ﷺ هم پداسې حال کې مبعوث شو چې خلکو به د مضاربت معامله کوله. خو هغه ﷺ پرې هيڅ اعتراض ونه کړ. لهذا دغه نه اعتراض تقرير او تائيد ده د مضاربت د معاملې لپاره، او تقرير او نه اعتراض دا يو قسم د اقسامو د سنتو څخه ده.

### ۳ . د اجماع دليل:

له اصحابو کرامو څخه لکه: حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علي، عبدالله بن مسعود، عبدالله بن عمر، عبيدالله بن عمر، او حضرت عايشه رضی الله عنهم اجمعين څخه نقل شوي، چې د يتيم مال به يې په مضاربت ورکاوه، او هيڅ يو صحابي چې پدې وخت کې ژوندی و، دا کار رد کړی نه دی. (بدائع الصنائع، ج ٦، ص ٧٩)

### ۴ . د مشروعيت حکمت:

الله سبحانه وتعالى انسانان د خانګړو وړتياوو او ظرفيتونو سره پيدا کړي، داسې چې هر انسان يوه اړتيا لري. دا طبيعي اړتياوې د انسانانو ترمنځ اړيکې ټينګې ساتي، تر څو په معاملاتو کې د يو بل حقوق او متقابلې تمې پوره کړي.
د مضاربت عقد هم همدا هدف لري؛ يعنې هغه څوک چې مالي وس لري خو د تجارت توان نه لري، او بل څوک چې د تجارت توان لري خو مالي وس نه لري، دوی دواړه خپلې وړتياوې سره يوځای کوي او په ګډه فعاليت کوي.

## د مضاربت ډولونه:

### مطلقه مضاربت:

هغه مضاربت ته ويل کيږي چې پانګه وال خپله سرمايه مضارب ته ورکوي او هغه په ټولو چارو کې آزاد پريږدي، هيڅ ډول محدوديت لکه د وخت، ځای، د سوداګرۍ ډول او له چا سره چې معامله کوي نه وربانديې لګوي.

### مقيده مضاربت:

هغه مضاربت ته ويل کيږي چې پانګه وال مضارب ته د وخت، ځای، د سوداګرۍ ډول او له کومو اشخاصو سره چې سوداګري کوي، حدود ټاکي. پدې حالت کې مضارب يوازې د پانګه وال له ټاکلې چوکاټ سره سم تجارت کولای شي. (بدائع الصنائع، ج ٦، ص ٨٧)

### په مضاربت کې د پانګونې شرايط:

په ټولو عقودو او معاملو کې د عقد د ذاتي شرايطو تر څنګ، د طرفينو شرايط هم شته چې عموماً په ټولو معاملو کې يو ډول وي. دلته يوازې هغه اساسي شرايط بيانيږي چې د عقد له ذات سره تړاو لري، نه د فرعي اړخونو سره. د مضاربت عقد ټوله کې ۷ شرطونه لري:

(1). اصل سرمایه باید نقدي پیسې وي. یا هغه طلا او سپین زر چې د بازار په راکړه ورکړه کې د نقدي پیسو خاصیت لري. (كَوْنُ رَأْسِ الْمَالِ مِنَ الْأَثْمَانِ)

(2). سرمایه باید د پانګه وال له لوري نقداً مضارب ته ورکړل شي. او که مضارب ته پور ورکړل شي، دا د مضاربت سرمایه نه ګڼل کیږي. (وَكَوْنُ رَأْسِ الْمَالِ عَيْنًا لَا دَيْنًا)

(3). پانګه وال باید پیسې مضارب ته وسپاري او هغه دې د پیسو واک ولري. (وَكَوْنُهُ مُسَلَّمًا إِلَى الْمُضَارِبِ)

(4). د دواړو خواوو ترمنځ باید د ګټې فیصدي په عادلانه ډول وویشل شي. (وَكَوْنُ الرِّبْحِ بَيْنَهُمَا شَائِعًا)

(5). د دواړو خواوو د ګټې اندازه باید معلومه وي. (وَكَوْنُ نَصِيبِ كُلٍّ مِنْهُمَا مَعْلُومًا)

(6). د مضارب حق باید یوازې د ګټې له مخې ورکړل شي، نه له اصلي پانګې. (كَوْنُ نَصِيبِ الْمُضَارِبِ مِنَ الرِّبْحِ)

(7). د اصلي پانګې ( رأس المال ) اندازه باید دواړو لورو ته معلومه وي. (كون رأس المال معلوما)(رد المحتار/ج5/ص647) الاختيار لتعليل المختار/ ج 3/ص19) ( بدائع الصنائع/ج 6 /ص 82).

## ۲. شراکت

شراکت په لغت کې:شراکت د "شرک" څخه اخیستل شوې کلمه ده، چې د "شین" د زیر او "را" د سکون سره لوستل کیږي. مانا یې: برخه، حصه او ونډه ده. لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمایي: «مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ» یعنې: "که څوک د یوه غلام په شراکت کې خپله حصه ازاده کړي." دلته شراکت د "حصې" معنا لري.

همدا راز، نابغه جعدي وایي: وَشَارَكْنَا قُرَيْشًا فِي تُقَاهَا ... وَفِي أَحْسَابِهَا شِرْكَ الْعِنَانِ) یعنې: موږ د قریشو سره د تقوی او حسب په برخه کې شراکت درلود. لکه څنګه چې د شراکت په سرمایه کې هر شریک ته ونډه وي.

شراکت په لغت کې د "مخلوط کېدو" معنا هم لري.

**شراکت په اصطلاح کې**:شراکت هغه عقد دی چې له مخې یې دوه یا زیات کسان په سرمایه او ګټه کې شریک وي. (عِبَارَةٌ عَنْ عَقْدٍ بَيْنَ الْمُتَشَارِكَيْنِ فِي الْأَصْلِ وَالرِّبْحِ)

اصطلاح کې شراکت د مالونو یوځای کول دي، چې د هر شریک برخه پکې مالومه وي. (الْخُلْطَةُ وَثُبُوتُ الْحِصَّةِ) ( الاختيار لتعليل المختار/ج3 /11) (رد المحتار /ج4/ص299)

### د شراکت حکم:

شراکت بېلابېل ډولونه لري او د علماوو له نظره ، د لاندې نصوصو په رڼا کې، مشروع او جایز ګڼل شوې ده:

### د قرآن دلیل:

﴿ وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَا ﴾ [ص: ٢٤]

**ژباړه**: بېشکه ډېر شریکان یو پر بل ظلم کوي، پرته له هغو کسانو چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه کوي، او دا خلک لږ دي.

### د سنت دلیل:

د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «إِنَّ اللهَ يَقُولُ: أَنَا ثَالِثُ الشَّرِيكَيْنِ، مَا لَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ، فَإِنْ خَانَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ، خَرَجْتُ مِنْ بَيْنِهِمَا». (رواه أبو داود، ٦٧٧/٣)

**ژباړه**: الله تعالی فرمایي: زه د دوو شریکانو دریيم یم، تر هغه چې یو بل ته خیانت ونه کړي، که یو یې خیانت وکړي، نو زه له منځه وځم.

### د امت اجماع:

اسلامي امت د تاریخ په اوږدو کې په شراکت عمل کړی، او هېڅکله داسې نظر نه دی ورکړل شوی چې د شراکت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. که څه هم

علماؤو د څېنو ډولونو په اړه اختلافات درلودلي. خو د عقد شراکت په مشروعیت اتفاق لري. (المغني لابن قدامة ۱۲۴/۵)

## د شراکت ډولونه

شراکت بېلابېل ډولونه لري چې دلته به یې عمومي یادونه وشي، او هغو ډولونو ته به لږ تفصیل ورکړل شي چې د شرکتونو د کار د ساحې له پانګونې سره مستقیم تړاو لري. شراکت په دوه عمومي ډولونو وېشل کېږي:

### شراکت املاک:

دا شراکت په دوه ډوله دی:

- هغه چې د شریکانو په خوښه وي.
- هغه چې پرته له اختیار څخه وي، لکه میراث او ورته موارد.

### د شراکت عقود:

دا درې ډولونه لري:

1- شراکت اموال:

هغه عقد دی چې شریکان خپل مالونه یو ځای کوي تر څو په کار، سرمایه او ګټه کې شریک وي. که چیرې د دوی سرمایه، کار او ګټه یو له بله فرق ولري، دې ته "شراکت عنان" وایي. که چیرې په ټولو امورو کې مساوي وي، دې ته "شراکت مفاوضه" وایي. دواړه ډولونه د احنافو له نظره جایز دي.

2- شراکت اعمال یا ابدان:

هغه عقد ته ویل کېږي چې دوه کسان د فزیکي کار لپاره شریک شي، لکه: خیاطي، خښتې جوړول، بار وړل او نور فزیکي فعالیتونه.

3- شراکت وجوه:

هغه عقد دی چې شریکان سرمایه نه لري، خو د اعتبار له مخې مال پور اخلي، هغه په نقد پلوري، او ګټه تر منځ وېشل کېږي. (بدائع الصنائع ۵۶/۶)

# ۳. مزارعت

**لغوي تعریف**: مزارعت د «مفاعله» له باب څخه ده او له "زرع" څخه اخیستل شوې، چې معنی یې ده د دوه اړخیزې همکارۍ له لارې کرنه ترسره کول. (مُفَاعَلَةٌ مِنْ الزَّرْعِ، وَهُوَ الْإِنْبَاتُ، وَالْإِنْبَاتُ.) (رد المحتار، ج۶، ص۲۷۴) (بدائع الصنائع، ج۶، ص۱۷۵)

**اصطلاحي تعریف**: مزارعت هغه عقد دی چې د دوو لوریو ترمنځ د کرنیز فعالیت لپاره کېږي، چې له مخې یې یو لوری خپله ځمکه او د کرنې وسایل بل لوري ته سپاري تر څو کرنه وکړي، او دواړه لوري د کرنې له حاصلاتو څخه په ځانګړې شوې اندازې سره برخه اخلي. دا عقد د فقه له مقرر شوو شرطونو سره سم صحیح بلل کېږي. (عِبَارَةٌ عَنْ الْعَقْدِ عَلَى الْمُزَارَعَةِ بِبَعْضِ الْخَارِجِ بِشَرَائِطِهِ الْمَوْضُوعَةِ لَهُ شَرْعًا). (رد المحتار، ج۶، ص۲۷۴) (بدائع الصنائع، ج۶، ص۱۷۵)

## د مزارعت حکم:

مزارعت یو له هغو عقودو څخه ده چې د خلکو د اړتیا او ضرورت له مخې مشروع ګڼل شوې ده، که څه هم امام ابوحنیفه رحمه الله دا عقد ناسم ګڼي، خو د هغه یاران امام ابو یوسف او امام محمد رحمهما الله دا عقد د مضاربت له عقد سره قیاس کړی او د امت د لویو مصالحو په پام کې نیولو سره یې د جواز فتوا ورکړې، او مفتی به قول هم د یارانو دی. (وَلَا تَصِحُّ عِنْدَ الْإِمَامِ؛ لِأَنَّهَا كَقَفِيزِ الطَّحَّانِ، وَعِنْدَهُمَا تَصِحُّ، وَبِهِ يُفْتَى لِلْحَاجَةِ، وَقِيَاسًا عَلَى الْمُضَارَبَةِ)
(رد المحتار، ج۶، ص۲۷۵)

## د مزارعت شرطونه:

د فقهي په کتابونو کې د ځمکې خاوند، بزګر، تخم او ځمکې لپاره ځانګړي شرطونه بیان شوي دي. دلته به یوازې د ځمکې او تخم شرطونه ذکر شي:

1- باید د کرلو تخم ډول معلوم وي چې څه به وکرل شي.
2- ځمکه باید د حاصل ورکولو وړتیا ولري.

3- د دواړو لوريو ونډې بايد له وړاندې معلومې وي.
4- دواړه لوري بايد د حاصلاتو شريک وي.
5- د هر لوري حق بايد د حاصلاتو ځانګړې برخه وي، نه ټول حاصلات.
6- د هر يوه ونډه بايد مناسبه وي، نه ډېره کمه او نه ډېره زياته.
7- عقد بايد د هغه محصول لپاره وي چې د بزګر په کار سره زياتېدلی شي، نه داسې محصول چې لا مخکې تيار وي، يعنې له وړاندې پاخه غنم نشي مزارعه کېدلی.
8- هغه ځمکه چې عقد پرې کېږي بايد مشخصه وي.
9- ځمکه بايد په بشپړ ډول د بزګر تر واک لاندې وي.
10- په عقد کې بايد هدف ځرګند وي، چې آيا ځمکه په اجاره ورکول کېږي که بزګر د ځمکې دکرلو لپاره اجاره کېږي.
11- په عمومي ډول، ځمکه وال او بزګر بايد د عقد وړتيا (اهليت) ولري. (رد المحتار، ج٦، ص٢٧٥) (بدائع الصنائع، ج٦، ص١٧٧)

## د مزارعت ډولونه:

مزارعت په څلور ډوله عقدېږي، چې درې يې جايز دي او يوه ناجايز، چې تفصيل يې داسې دی:

1- ځمکه، تخم، وسايل يا ماشينونه ټول له يوه لوري وي او کار له بل لوري.
2- ځمکه د يو لوري وي، نور ټول وسايل او کار د بل لوري.
3- ځمکه او تخم د يوه لوري وي، وسايل او کار د بل لوري.

دا درې واړه ډولونه جايز دي.

4- ځمکه او ماشين د يوه لوري وي، او نور وسايل د بل لوري دا به جايز نه وي.(بدائع الصنائع، ج٦، ص١٧٩)

## ۲. اجاره

**د اجارې لغوي تعريف:** اجاره د "اجر" څخه اخيستل شوی لغت دی، او هغه څه ته وايي چې د يوه کار د تر سره کولو په بدل کې اخيستل کېږي. همدارنګه، اجاره د "منفعت پلور" په معنی هم کارېږي.(اسْمٌ لِلْمَأْخُوذِ، مُشْتَقَّةٌ مِنَ الْأَجْرِ وَهُوَ عِوَضُ الْعَمَلِ. فَالْإِجَارَةُ بَيْعُ الْمَنْفَعَةِ لُغَةً) (رد المحتار، جلد ٦، صفحه ٣؛ بدائع الصنائع، جلد ۴، صفحه ١٧۴).

**د اجارې اصطلاحي تعريف:** د يو شي د مقصودې ګټې ملکيت ګرځول د يوه عوض په بدل کې. (تَمْلِيكُ نَفْعٍ مَقْصُودٍ مِنْ الْعَيْنِ بِعِوَضٍ) (رد المحتار، جلد ٦، صفحه ٣).

**د اجارې حکم:** فقهاء کرامو د قرآن کريم آيتونو، د نبي ﷺ احاديثو او د امت اجماع په بنسټ، د اجارې عقد مشروع بللی.

لاندې يې دلايل راوړل شوي:

### کتاب الله (قرآن):

په دې آيت کې الله سبحانه وتعالی امر کړی چې د ماشومو شيدو ورکونکو ښځو ته دې اجر يا مزد ورکړل شي: ﴿فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ [الطلاق: ٦] الله سبحانه وتعالی داسې فرمايلي: ﴿ قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ٱبْنَتَيَّ هَٰتَيْنِ عَلَىٰٓ أَن تَأْجُرَنِي ثَمَٰنِيَ حِجَجٍ ﴾ [القصص: ٢٧] ژباړه: زه غواړم چې يوه له خپلو لورګانو تا ته واده کړم، په دې شرط چې ته ماته اته کاله خدمت وکړې؛ دا آيت کار د اجرې يا اجارې په توګه بيان کړی، چې د نکاح په بدل کې راغلی.

همدارنګه، الله تعالی د همدې آيت په دوام کې د "استئجار" کلمه هم کارولې، چېرته چې حضرت موسی عليه السلام ته د کار وړانديز کېږي، دا هم د اجارې مشروعيت ته اشاره کوي: ﴿قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسْتَـْٔجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ ٱلْقَوِيُّ ٱلْأَمِينُ﴾ [القصص: ٢٦]

## احادیث شریف:

په دې حدیث کې نبي کریم ﷺ د څینو ناسمو کارونو څخه منع کړې چې په بیوعو کې رواج لري، او ورسره یې امر کړی چې د کارکوونکي اجر باید ورته معلوم کړل شي: قال رسول الله ﷺ: «لَا يَسْتَامُ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ وَلَا يَنْكِحُ عَلَى خِطْبَتِهِ، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا تَبِيعُوا بِإِلْقَاءِ الْحَجَرِ، وَمَنْ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَلْيُعْلِمْهُ أَجْرَهُ»

همدارنګه، په یوه بل حدیث کې فرمایلي: «اعطوا الاجیر اجره قبل ان یجف عرقه» ژباړه: د مزدور مزد تر دې وړاندې ورکړئ چې خوله یې وچه شي.

نو د پورتنیو نصوصو په رڼا کې، د اجارې د مشروعیت په اړه هیڅ شک نه پاتې کیږي.

## اجماع:

د اجارې عقد په ټولو زمانو کې وجود درلود او خلکو پرې معامله کوله. اسلام هم دا تائید کړی، او د امت ټولو جمهورو علماؤو پرته له اختلافه منلې ده.(بدائع الصنائع، جلد ۴، صفحه ۱۷۳).

## د اجارې شرطونه:

د اجارې عمومي شرطونه په لاندې ډول دي:

1. کله چې یو شخص اجاره کیږي، لاندې موارد باید معلوم وي: که اجرت پیسې وي، اندازه یې باید معلومه وي، او که اجرت د وزن، پیمانې یا شمېر شی وي، باید اندازه، صفت، او ځای چې اجرت ورکول کیږي معلوم وي.
2. هغه ګټه چې له اجیر څخه مستأجر ته رسیږي باید معلومه وي، ترڅو شخړه رامنځته نه شي.
3. هغه ځای چې ګټه مستأجر ته رسیږي باید معلوم وي.
4. که کور یا دوکان وي، نو وخت یې باید مشخص شي.
5. که ځمکه اجاره کیږي، باید دا معلومه شي چې له دې ځمکې څخه به څه ډول ګټه اخیستل کیږي او څومره موده.
6. که حیوانات اجاره کیږي، باید د اجارې موده او ځای هم معلوم شي. په هر صورت، که دا موارد بیان نه شي، اجاره فاسده بلل کیږي: (قَوْلُهُ كَوْنَ الْأُجْرَةِ وَالْمَنْفَعَةِ مَعْلُومَتَيْنِ. بَيَانُ مَحَلِّ الْمَنْفَعَةِ . بَيَانُ الْمُدَّةِ فِي إِجَارَةِ الدُّورِ وَالْمَنَازِلِ، وَالْبُيُوتِ، وَالْحَوَانِيتِ، وَفِي اسْتِئْجَارِ الظِّئْرِ. وَأَمَّا فِي إِجَارَةِ الْأَرْضِ فَلَا بُدَّ فِيهَا مِنْ بَيَانِ مَا تُسْتَأْجَرُ لَهُ مِنْ الزِّرَاعَةِ وَالْغَرْسِ وَالْبِنَاءِ وَغَيْرِ ذَلِكَ. فَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ كَانَتْ الْإِجَارَةُ فَاسِدَةً. وَأَمَّا فِي إِجَارَةِ الدَّوَابِّ فَلَا بُدَّ فِيهَا مِنْ بَيَانِ أَحَدِ الشَّيْئَيْنِ: الْمُدَّةِ أَوْ الْمَكَانِ فَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ أَحَدَهُمَا فَسَدَتْ) (رد المحتار، جلد ٦، صفحه ٥؛ بدائع الصنائع، جلد ۴، صفحه ۱۷۹).

## د اجارې ډولونه:

اجاره په عمومي توګه پنځه ډولونه لري:

1. د انسانانو اجاره د کار او خدمت لپاره.
2. د کورونو، دوکانونو او ورته مواردو اجاره.
3. د زراعت یا د ودانیو لپاره د ځمکې اجاره.
4. د حیواناتو او ترانسپورتي وسایلو اجاره.
5. د لوښو او نورو کورنیو وسایلو اجاره.(بدائع الصنائع، جلد ۴، صفحه ۱۷۹).

لهذا ذکر شوي امور داسې څه دي چې د پانګونې لپاره اهم او د سرمایې د بقا زریعه ګرځي.

# د پانګونې ارزونه

پانګونه یوه ستراتیژیکه او مهمه مالي پریکړه ده چې د شرکتونو، دولتونو، او انفرادي پانګه‌والو لخوا د شتمنۍ د زیاتوالي او اقتصادي ودې لپاره ترسره کیږي، خو هر ډول پانګونه له خطر سره مل وي؛ د منابعو محدودیت ته په کتو، دا اړینه ده چې د یو شرکت یا شخص له خوا له پانګونې وړاندې له دقیقې ارزونې او تحلیل څخه کار واخیستل شي.

د پانګونې ارزونه (Investment Evaluation) هغه تحلیلي بهیر دی چې پکې د یوې پروژې ټول اړخونه

لکه مالي وضعیت او تخنیکي امکان په ژور ډول تحلیلیږي. دا بهیر مرسته کوي تر څو معلومه شي چې یاده پروژه څومره اقتصادي ارزښت لري، کومې مالي ګټې ترې نمه کېدای شي او آیا باید پر هغې پانګونه وشي او که نه.

په ارزونه کې پانګه‌وال هڅه کوي تر څو د پانګونې اوږدمهاله عواید، د پانګې بېرته راګرځېدو وخت، خطرونه، د بازار اړتیاوې، سیالي، قانوني شرایط، او نور مهم فکتورونه تحلیل کړي.

د پانګونې ارزونې اهمیت په دې کې ده، چې که چیرې له مخکې څخه د پروژې سمه او علمي ارزونه شوې وي، نو دا به د پانګونې ضایع کېدو، ناکامۍ او مالي زیانونو مخه ونیسي. همدارنګه د پانګونې ارزونه دا ممکنوي چې پانګه‌وال د پروژې اوږدمهاله پایلې او احتمالي بدلونونه اټکل کړي او د هغو پر بنسټ ښه تصمیم ونیسي.

د پانګونې ارزونه نه یوازې یو تخنیکي کار دی، بلکې یو بنسټیز اصل دی چې د هر ډول پانګونې د بریا او پایداری لپاره حیاتي رول لري.

## د پانګونې د ارزونې موخې

د پانګونې ارزونه د یو شمیر مشخصو موخو د ترلاسه کولو لپاره ترسره کیږي چې موږ یې په لاندې برخه کې یادونه کوو.

### د پانګونې د ګټورتیا اندازه کول:

د دې لپاره چې معلومه شي یوه پروژه یا پانګونه څومره عاید یا اقتصادي ګټه لري او آیا د هغې له لارې د پانګوال شرکت/ سازمان پانګه زیاتیږي که نه.

### د منابعو اغېزناک تخصیص:

د پانګونې ارزونه دا اسانه کوي چې شته مالي او مادي سرچینې بې ځایه ونه لګول شي، بلکې یوازې په هغې برخه کې ولګول شي چې تر ټولو لوړه ګټه او ارزښت ولري.

### د خطرونو پیژندنه او تحلیل:

د پانګونې ارزونه مرسته کوي تر څو د یوې پانګونې اړوند احتمالي خطرونه (سیاسي، مالي، بازار، تخنیکي او نور) وپیژندل شي او د هغو د کمزوري کولو یا له منځه وړلو لارې چارې وموندل شي.

### غوره انتخاب:

کله چې د یوه پانګوال شرکت لپاره د پانګونې په برخه کې مختلف فرصتونه موجود وي، د پانګونې ارزونه موجود فرصتونه یو له بل سره پرتله کوي او د پانګې د ګټورتیا او کم خطر په نظر کې نیولو سره پانګوال شرکت ته د غوره انتخاب او تصمیم نیونې لاره پرانیزي.

### پریکړه کول:

د پانګونې ارزونه د پانګوال شرکت لپاره د پانګونې ټول اړخونه په ښه ډول تحلیلوي او پانګوال شرکت ته د پانګونې ارزونه، شفاف مالي تصویر وړاندې کوي، چې پر بنسټ یې یاد شرکت د پانګونې د تأیید یا رد پریکړه کوي.

## د پانګونې ارزونې میتودونه

د پانګونې د ارزونې لپاره بېلابېل میتودونه یا تحلیلي طریقې کارول کېږي، تر څو د یوې پروژې مالي ګټورتیا، احتمالي خطر او دوام معلوم شي. دا میتودونه مرسته کوي تر څو پانګه‌وال پرېکړه وکړي چې پروژه تأیید یا رد کړي.
د پانګونې د ارزونې مهم میتودونه په لاندې ډول دي:

## (NPV) خالص اوسنی ارزښت

خالص اوسنی ارزښت (NPV) هغه اندازه ده، چې د پانګونې د لومړنیو مصارفو او راتلونکو عوایدو ترمنځ توپیر محاسبه کوي. NPV یو شرکت سره مرسته کوي چې ارزونه وکړي چې ایا پروژه یا پانګه اچونه ګټوره ده که نه؛ د خالص اوسني ارزښت (NPV) محاسبه د تخفیف نرخ په کارولو سره ترسره کېږي، کوم چې د پیسو د وخت ارزښت اندازه کوي. د تخفیف نرخ د راتلونکي نغدي جریانونو اوسني ارزښت محاسبه کولو لپاره کارول کېږي؛ دا نرخ له شرکت سره مرسته کوي چې پوه شي چې د نن ورځې پیسو ارزښت به په راتلونکي کې د پیسو ارزښت په پرتله څومره بدلون ومومي.

### د خالص اوسني ارزښت (NPV) محاسبه کولو څرنګوالی

د خالص اوسني ارزښت معنی دا ده چې د یوې ټاکلې مودې (t) په اوږدو کې د راتلونکي خالص نغدي جریان (R) ارزښت محاسبه کوي او د اوسني وخت معادل ته یې بدلوي. دا پروسه په داسې ډول ترسره کېږي چې تخمین شوی نغدي جریان بیرته خپل اوسني ارزښت ته راستون شي.
په دې محاسبه کې یو له اصلي فکتورونو څخه انفلاسیون دی، چې د سلنې په توګه ښودل شوی، او د پانګونې د متوقع عاید په ټاکلو کې کلیدي رول لوبوي. دا نرخ، چې د تخفیف نرخ په نوم هم پېژندل کېږي، د پروژې یا پانګونې د فرصت لګښت یا متوقع بیرته راستنېدنه منعکس کوي.

### مثبت او منفي خالص اوسنی ارزښت

د خالص اوسني ارزښت (NPV) له مخې، که چیرې NPVمثبت وي، نو دا پدې مانا ده چې تمه شوي عایدات د اړوندو لګښتونو څخه ډیر دي او پانګه اچونه به ګټوره وي. په بل عبارت، پروژه یا پانګه اچونه د خپلو لګښتونو څخه ډیر ارزښت رامنځته کوي.
خو که چیرې NPVمنفي وي، پدې معنی چې تمه شوې لګښتونه به د پروژې لخوا د رامنځته شوي عاید څخه ډیر وي، دا په ګوته کوي چې پانګه اچونه ګټوره نه ده او د هغې تمه شوی ارزښت د لګښتونو څخه کم دی. که چیرې NPV صفر وي، د پانګونې د بدیلې پروژې په نشتون کې پروژه د پانګه اچونکي شرکت لپاره ښه ده چې تطبیق یې کړي.

### د خالص اوسني ارزښت ګټې او زیانونه

ګټې:

- **د پیسو د وخت ارزښت په پام کې نیولو سره:** NPVپه مختلفو وختونو کې د پیسو د ارزښت توپیر په ښه توګه محاسبه کوي.
- **روښانه مالي تحلیل وړاندې کوي:** NPV په واضح ډول ښیي چې یوه پروژه څومره خالصه ګټه یا زیان لري.
- **د پانګې اچونې ښه لارښوونه کوي:** د NPV له لارې کولای شو هغه پروژې وټاکو چې تر ټولو زیات ارزښت ولري.
- **د زیاتو پروژو پرتله کولو لپاره اغېزناک دی:** د پروژو ترمنځ د انتخاب لپاره مناسب تحلیل برابروي.
- **د تخفیف شوي نغدي جریان شامل دي:** NPV د تخفیف نرخ په پام کې نیولو سره د پروژو په ارزونه کې د وخت اغېز شاملوي او

د راتلونکي نغدي جریان اوسني ارزښت محاسبه کولو ته اجازه ورکوي.

زیانونه:

- **په وړاندوینو تکیه :** NPV پایلې په پراخه کچه په اوږدمهاله اټکلونو او وړاندوینو پورې اړه لري، کوم چې ممکن د غلطۍ تابع وي.
- **د اوږدمهاله پروژو لپاره پیچلې محاسبه :** هغو پروژو لپاره چې د څو کلونو لپاره نغدي جریان لري، د NPV په لاسي ډول محاسبه کول ستونزمن کیږي.
- **غیر مالي ګټې نه ارزوي:** NPV په مالي معلوماتو ډیر تمرکز کوي او غیر مالي معیارونه لکه سیاسي، ټولنیز او چاپیریالي عوامل په پام کې نه نیسي.

**مثال:**

اوس موږ غواړو دلته په یوه عملي مثال کې د یوه شرکت لپاره خالص اوسنی ارزښت NPV پیدا کړو.

یو امارتي شرکت غواړي چې په یوه پروژه کې 4000000 څلور میلیونه افغانۍ پانګونه وکړي د 5 کلونو لپاره په اول کال کې فروشات 3,000,000 درې میلیونه افغانۍ دي، په دویم کال کې 3,400,000 درې میلیونه او څلور سوه زره افغانۍ، دریم کال 4,000,000 څلور میلیونه افغانۍ، څلورم کال 4,100,000 څلور میلیونه او سل زره افغانۍ، او پنځم کال4,300,000 څلور میلیونه او درې سوه زره افغانۍ فروشات لري، د پروژې د تطبیق لپاره د موادو خریداری په اول کال کې 1,000,000 یو میلیون افغانۍ، په دویم کال کې 1,500,000 یو میلیون او پنځه سوه زره افغانۍ، دریم کال 1,500,000 یو میلیون او پنځه سوه زره افغانۍ، په څلورم کال 1,800,000 یو میلیون او اته سوه زره افغانۍ او په پنځم کال 2,000,000 دوه میلیونه افغانۍ ده؛ د کارکوونکو معاشات په اول کال 50,000 پنځوس زره افغانۍ، په دویم کال 50,000 پنځوس زره افغانۍ، دریم کال 58,000 اته پنځوس زره افغانۍ، په څلورم کال 65,000 پنځه شپیته زره افغانۍ او په پنځم کال 65,000 پنځه شپیته زره افغانۍ کیږي؛ انتفاعي مالیه په اول کال 120,000 یوسلو شل زره افغانۍ، په دویم کال 136,000 یو سلو شپږ دیرش زره افغانۍ، په دریم کال 160,000 یو سلو شپیته زره افغانۍ، په څلورم کال 164,000 یو سلو څلور شپیته زره افغانۍ او په پنځم کال 172,000 یو سلو دوه اویا زره افغانۍ ده؛ متغیر مصارف په اول کال 500,000 پنځه سوه زره افغانۍ دي، په دویم کال 510,000 پنځه سوه او لس زره افغانۍ، دریم کال 515,000 پنځه سوه او پنځه لس زره افغانۍ، څلورم کال 415,000 څلور سوه او پنځلس زره افغانۍ او پنځم کال 600,000 شپږسوه زره افغانۍ دي ، ثابت مصارف له اول کال څخه شروع په هرکال کې په دوامداره ډول 100000 سل زره افغانۍ دي د تخفیف اندازه یې 10٪ سلنه ده؛ اوس موږ ددغه شرکت لپاره خالص اوسنی ارزښت NPV محاسبه کوو، چې ایا دغه پانګونه د شرکت لپاره په ګټه ده که؟ پورته ارقام لاندې په جدول کې هم تبودل شوي دي

| کال | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|---|
| فروشات | 3,000,000 | 3,400,000 | 4,000,000 | 4,100,000 | **4,300,000** |
| د موادو خرید | 1,000,000 | 1,500,000 | 1,500,000 | 1,800,000 | **2,000,000** |
| معاشات | 50,000 | 50,000 | 58,000 | 65,000 | **65,000** |
| 4٪ انتفاعي ماليه | 120,000 | 136,000 | 160,000 | 164,000 | **172,000** |
| متغیر مصارف | 500,000 | 510,000 | 515,000 | 415,000 | **600,000** |
| ثابت مصارف | 100,000 | 100,000 | 100,000 | 100,000 | **100,000** |
| ټول لګښتونه | 1,770,000 | 2,296,000 | 2,333,000 | 2,544,000 | **2,937,000** |
| عایدات | 1,230,000 | 1,104,000 | 1,667,000 | 1,556,000 | **1,363,000** |
| 20%مالیات پر عایدات | 246,000 | 220,800 | 333,400 | 311,200 | **272,600** |
| خالص نقدي جریان | 984,000 | 883,200 | 1,333,600 | 1,244,800 | **1,090,400** |
| د تخفیف نرخ | 0.909 | 0.826 | 0.751 | 0.683 | **0.620** |
| نغدي جریان یا PV | 894,545.45 | 729,917.36 | 1,001,953.42 | 850,215.15 | **677,052.61** |

د NPV یا خالص اوسني ارزښت د پیداکولو لپاره فورمول مطابق لومړي د هر کال خالص نغدي ارزښت پیدا کوو او وروسته د ټولو کلونو خالص نغدي ارزښت جمع کوو او د پانګوني له مجموعي څخه یې کموو.

$$NPV = \sum \left( \frac{Rt}{(1+r)^t} \right) - C_0$$ د خالص اوسني ارزښت د پیداکولو فورمول

- NPV : خالص اوسنی ارزښت (Net Present Value)
- Rt : خالص نغدي جریان په t دوره کې
- r : تخفیف اندازه
- t: د دورو شمیر (معمولاً کال)
- C0: د پانګونې لومړنی اندازه

د هرکال لپاره خالص نغدی جریان پیدا کوو: د نغدي جریان د پیدا کولو لپاره ټول مصارفات جمع کوو د مالیې په ګډون او له کلنیو فروشاتو نه یې منفي کوو چې په نتیجه کې کلنی نغدي جریان لاسته راځي، په پورته جدول د هرکال نغدي جریان پیدا شوی ده، څو دلته یې بیا هم د فورمول په واسطه پیدا کوو.

$$NPV = \sum \left( \frac{Rt}{(1+r)^t} \right) - C_0$$

$$NPV = \sum \left( \frac{984{,}000}{(1+10\%)^1} + \frac{883{,}200}{(1+10\%)^2} + \frac{1{,}333{,}600}{(1+10\%)^3} + \frac{1{,}244{,}800}{(1+10\%)^4} + \frac{1{,}090{,}400}{(1+10\%)^5} \right) - 4000000$$

$$NPV = \sum \left( \frac{984{,}000}{1.1} + \frac{883{,}200}{1.21} + \frac{1{,}333{,}600}{1.331} + \frac{1{,}244{,}800}{1.464} + \frac{1{,}090{,}400}{1.610} \right) - 4000000$$

$$NPV = \sum (894545.45 + 729917.35 + 1,001,953.42 + 850,273.22 + 677267.08) - 4000000$$
$$NPV = 4153683.99 - 4000000$$
$$NPV = 153683.99$$

NPV>0

دلته ګورو چې د شرکت لپاره په دغه پانګونه کې خالص اوسنی ارزښت یا NPV له صفر څخه زیات ده، نو په دې معنی چې دغه پروژه کې پانګونه د شرکت لپاره په ګټه ده او شرکت باید دلته پانګونه ترسره کړي.

## IRR - داخلي عايد نرخ

د داخلي عايد نرخ (IRR) د مالي او اقتصادي تحليل يا ارزونې له مهمو ميتودونو څخه ده، چې د پانګونې پروژو د ګټې ارزولو او د پروژې د انتخاب په اړه د پريکړو کولو لپاره کارول کيږي. IRR هغه ميتود ده چې په هغه کې د پروژې NPV = 0 کيږي، دا پدې مانا ده چې د نغدو پيسو راتګ او وتل د پانګونې په موده کې مساوي وي، دا ميتود پانګه اچوونکو شرکتونو ته ښيي چې دوی له يوې پروژې څخه د څومره عايد تمه کولی شي او ايا په هغه پروژه کې پانګونه کول معقول دي که نه.

### د داخلي عايد نرخ تعريف (IRR)

په ساده توګه، **داخلي عايد نرخ يا IRR** يو مالي معيار دی چې دا ښيي يوه پروژه يا پانګونه څومره عايد يا ګټه لري. دا نرخ په هغه نقطه کې واقع دی چې د پروژې خالص اوسنی ارزښت (NPV) صفر ته رسيږي؛ يعنې د پروژې ټول راتلونکي نغدي عوايد (ورودي پيسې) د پيل پانګې يا لګښتونو سره دقيقاً برابر وي.

د IRR د محاسبې لپاره باید د پروژې ټول نغدي جريانونه، يعنې داخليدونکي او وتونکي نغدي پيسې په پام کې ونيول شي. ترڅو د پروژې لنډمهاله يا اوږدمهاله ګټورتيا معلومه شي.

دا محاسبې اکثراً د **Excel** په څېر کمپيوټري سافټويرونو له لارې ترسره کيږي، ځکه دا وسايل ستونزمن مالي محاسبې په ساده او دقيق ډول ترسره کوي.

### د داخلي عايد نرخ (IRR) د محاسبې اهميت

د داخلي عايد نرخ يا IRR محاسبه د پانګه‌والو او مالي مديرانو لپاره يو مهم او ضروري کار دی. دا نرخ د پروژو د ارزونې لپاره يو کليدي معيار بلل کيږي، ځکه د پروژې د جلب، ګټورتيا او پانګونې ارزونه پرې ترسره کيږي.

په بل عبارت، کله چې يو پانګه‌وال يا مالي مدير د IRR معنا وپيژني او محاسبه يې کړي، کولای شي د بيلابيلو پروژو ترمنځ پرتله وکړي او معلومه کړي چې کومه پروژه تر ټولو زيات عايد يا ګټه لري.

ځکه چې IRR مستقيم د پروژې له عايد سره تړاو لري، دا مرسته کوي چې مديران د پروژې احتمالي خطرونه (ريسکونه) او ګټې په ښه ډول تحليل کړي.

که IRR د پانګې له لګښت څخه زيات وي، نو ويلای شو چې پروژه د ګټې وړتيا لري.

خو که IRR د پانګې له لګښت څخه کم وي، نو دا ښيي چې پروژه ګټوره نه ده او ممکن له مالي زيان سره مخ شي.

د IRR محاسبه پانګه والو ته دا وړتيا ورکوي چې څوره، ګټورې او با اعتباره پروژې تشخيص کړي.

### د داخلي عايد نرخ (IRR) ګټې او نيمګړتياوې

داخلي عايد نرخ (IRR) يو بياوړی مالي ميتود ده، چې د پروژو د ارزونې لپاره کارول کيږي. دا معيار ګڼ شمير ګټې لري، خو له ګټو سره سره ځينې نيمګړتياوې هم لري، په ځانګړي ډول هغه مهال چې د پروژې نغدي

جریانونه پیچلي یا غیرمعمولي وي. همداراز، IRR د اوږدمهالو یا متغیرو پروژو لپاره تل دقیق نه وي. لاندې به د دې ګټو او زیانونو تفصیل وکړو:

## د IRR ګټې:

### ۱ .سادګي او اسانه پوهېدنه

IRR یو ساده او واضح معیار دی. کارول یې او پرې پوهېدل اسانه دي، ځکه چې د یوې پروژې IRR د بانګي له لګښت څخه لوړ وي، په آسانۍ سره ویلای شو چې پروژه ګټوره ده.

### ۲ .د پروژو د ساده پرتله کولو امکان

پانګه‌وال کولای شي بېلابېلې پروژې د IRR پر بنسټ پرتله کړي او هغه انتخاب کړي چې تر ټولو لوړ داخلي عاید ولري. دا د انتخاب کولو پروسه ساده کوي.

### ۳ .د بهرني سود نرخ نشتوالی

د NPV په خلاف چې یوې ټاکلې تخفیف کچې (نرخ بهره) ته اړتیا لري، IRR ته د بهرني ګټې نرخ اړتیا نشته. پدې معنا چې IRR پخپله ښیي چې یوه پروژه څومره عاید تولیدوي، پرته له دې چې د بازار د ګټې نرخ معلوم شي.
د داخلي عاید نرخ (IRR) نیمګړتیاوې
که څه هم IRR یو ګټور او مشهور مالي معیار دی، خو دا هم له نیمګړتیاوو خالي نه دی، او په ځینو حالاتو کې ممکن پانګه‌وال یا مالي مدیران له ستونزو سره مخ کړي. لاندې د IRR مهمې نیمګړتیاوې یا محدودیتونه بیان شوې دي:

### ناسمې یا خیالي نتیجې احتمال

IRR ممکن په ځینو پیچلو یا غیرمعمولي پروژو کې ناسمه یا غیرواقعي نتیجه ورکړي
**مثال :**که یو پروژه په پیل کې زیات منفي نغدي جریانونه (مصارف) ولري، او وروسته له هغه ډېر مثبت جریانونه (عواید) ولري، IRR ښایي یوه داسې شمېره ورکړي چې له واقعي وضعیت سره هیڅ اړیکه ونلري.
په دې حالت کې:
IRRایو غیرواقعي عاید ښیي
یا هم پروژه څو IRR لري(Multiple IRRs)
دا کار د تصمیم‌نیونې پروسه مغشوشوي او سمه پرېکړه کول سختوي

### د وخت محدودیت

IRRد هغو پروژو لپاره چې وخت‌بندي یې غیرمعمولي وي (مثلاً ډېر اوږده، لنډمهاله یا له وقفو ډکه پروژه وي)، د ګټې واقعي تصویر نه وړاندې کوي، ځکه چې IRR د وخت ارزښت ته تر یوه حده محدود پام کوي او د بازار احتمالي بدلونونو ته توجه نه کوي.

### د بازار د ګټې نرخونو پر وړاندې حساسیت

IRR نسبتاً له بدلون موندونکو نرخونو (لکه نرخ بهره) سره حساس دی. که د بازار ګټې نرخونه په اوږد مهال کې بدلون ومومي، نو IRR خپل دقت له لاسه ورکوي او محاسبه‌یې له واقعي شرایطو سره سمون نه خوري.
نه ښیي چې پروژه څومره پیسې ګټي
IRR یوازې د "فیصدي عاید" اندازه ښیي، نه د مطلق عاید مقدار. دا مانا لري چې یو پروژه ښایي لوړ IRR ولري، خو لږه واقعي ګټه ورکړي. په داسې حال کې چې بله پروژه لږ IRRاولري، خو د پیسو له پلوه ډېر خالص عواید ورکړي.
مثال: اوس غواړو د خالص اوسني ارزښت لپاره د کار شوې پروژې مثال د IRR لپاره هم تطبیق کړو.
دا چې له ایکسیل څخه له استفادې پرته معمولاً د IRR د پیداکولو لپاره موږ باید په دوه تخفیف نرخونو کې خالص اوسنی ارزښت یا NPV پیدا کړو ترڅو له دواړو NPV څخه په استفادې وکولای شو د IRR قیمت پیدا کړو. نو دلته هم یو ځل په 10٪ سلنه کې او دویم ځل په 12٪ سلنه کې خالص اوسني ارزښت پیداکوو.

| کال | خالصه ګټه | تخفیف(10٪) | اوسنی ارزښت (PV) |
|---|---|---|---|
| 1 | 984,000 | 0.9091 | 894,545.45 |
| 2 | 883,200 | 0.8264 | 729,917.36 |
| 3 | 1,333,600 | 0.7513 | 1,001,953.42 |
| 4 | 1,244,800 | 0.6830 | 850,215.15 |
| 5 | 1,090,400 | 0.6209 | 677,052.61 |

ټول اوسني ارزښتونه یوځای(جمع) کوو:

PV=894,545.45+729,917.36+1,001,953.42+850,215.15+677,052.61=4,153,684

لومړنی پانګونه: 4,000,000 افغانۍ

NPV1=4,153,684−4,000,000= 153,684

د پروژې اوسنی خالص ارزښت یا NPV په 10٪ تخفیف نرخ کې مساوي ده له 153,684 افغانیو سره.

NPV1 =153,684

اوس د IRR داخلي عاید کچه د محاسبې لپاره غواړو چې د پروژې NPV په 12٪ نرخ کې هم محاسبه کړو.

د 12٪ تخفیف نرخ سره د NPV محاسبه:

| کال | خالصه ګټه(AFN) | تخفیف(12٪) | اوسنی ارزښت(PV) |
|---|---|---|---|
| 1 | 984,000 | 0.8929 | 878,173.6 |
| 2 | 883,200 | 0.7972 | 703,881.0 |
| 3 | 1,333,600 | 0.7118 | 949,232.5 |
| 4 | 1,244,800 | 0.6355 | 791,061.0 |
| 5 | 1,090,400 | 0.5674 | 618,901.0 |

PV=878,174+703,881+949,233+791,061+618,901 = 3,941,250

NPV2 = 3,941,250 −4,000,000 = −58,7503

NPV2 = −58,7503

اوس موږ دوه خالص اوسني ارزښتونه لرو

NPV1 =153,684

NPV2 = -58,750

د IRR پیداکولو لپاره

$$IRR = r1 + \frac{\text{NPV1}}{\text{NPV1} - \text{NPV2}} * (r2 - r1)$$

$$IRR = 10 + \frac{153684}{153684 - (-58750)} * (12 - 10)$$

$$IRR = 10 + \frac{153684}{212434} * (12 - 10)$$

$$IRR = 10 + 0.723 * (2)$$
$$IRR = 10 + 1.446$$
$$\%IRR = 11.45$$

دلته گورو چې د داخلي عاید نرخ یا IRR اندازه 11.45٪ ده نو دغه پروژه د تطبیق وړ ده چې یو پانګوال کولای شي پروژه تطبیق کړي.

## د Payback Period نادیاتو دوره

د پانګې بیرته راګرځېدو موده (Payback Period) یوه ساده مالي پروسه ده، چې د پانګوالو شرکتونو او افرادو لخوا ددې لپاره کارول کیږي؛ چې وښيي یوه شرکت به په څو کلونو یا میاشتو کې خپله لومړنی پانګه بیرته ترلاسه کړي. دا میتود د نقدي جریانونو (Cash Flows) پر بنسټ ولاړ دی او له همدې امله د پیسو حقیقي جریان ته پام کوي.

### د نادیاتو دورې (Payback Period) محاسبه

د پانګې بیرته راګرځېدو موده (Payback Period) یوه ساده مالي طریقه ده چې دا تحلیلوي چې یوه پانګونه به په څو کلونو یا میاشتو کې خپله لومړنی پانګونه بیرته ترلاسه کړي، دا میتود د نقدي جریانونو پر اساس محاسبه کیږي.

د محاسبې اساسي فورمول:

$$\text{Payback Period} = \frac{\text{لومړنی پانګونه}}{\text{کلنی نقدي جریان}}$$

**مثال**

که یو شرکت په یوه پروژه کې 100,000$ پانګونه وکړي، او پروژه هر کال 25,000$ نغدي جریان ولري، نو د پانګې دبیرته راګرځېدو د وخت پیداکولو لپاره ټوله پانګه به د هر کال په نغدي جریان باندې تقسیمو.

$$\text{Payback Period} = \frac{\mathbf{100000}}{\mathbf{25000}}$$

Payback period=4

یعنې پروژه به په څلورو کلونو کې خپل لومړنی پانګه بیرته ترلاسه کړي.

### نامساوي نقدي جریانونه

که یوه پروژه د څو کلونو لپاره وي او نقدي جریانونه د هر کال لپاره فرق وکړي، نو باید د ټولو کلون جریانونه راټول(جمع) شي او د کلونو په تعداد تقسیم شي چې اوسط یې پیدا شي وروسته لومړنی پانګه د کلونو په اوسط وویشل شي.

مثال:

| کال | نقدي جریان |
|---|---|
| 1 | 30,000 |
| 2 | 35,000 |
| 3 | 25,000 |
| 4 | 20,000 |

$$اوسط = \frac{30000+35000+25000+20000}{4}$$

$$اوسط = \frac{110000}{4}$$

اوسط = 27500

اوس مو چې د کلونو اوسط پیدا کړ لومړنې پانګه 100,000 سل زره ډالر د کلونو په اوسط باندې ویشو.

$$\text{Payback Period} = \frac{100000}{27500}$$

Payback period=3.6

یعنې په دغه حالت کې به پانګوال شرکت خپله لومړنې پانګه د دریو او څلورو کلونو په منځ( په درې کلونو او 7 میاشتو) کې لاسته راوړي.

## د Payback Period ګټې

د پانګې بیرته راګرځېدو موده(payback period) په مالي تحلیل کې د ارزونې یو مهم میتود ده. دغه میتود د پانګوالو شرکتونو لپاره لاندې ګټې لري:

1. **چټکه ارزونه:**
دا میتود شرکت ته دا توان ورکوي چې ژر تحلیل کړي چې یوه پروژه به څومره وخت کې خپله لومړنی پانګه بیرته لاسته راوړي.
2. **د خطر ارزونه:**
Paybackد خطر د ارزونې یو ابتدایي میتود دی. هغه پانګونې چې اوږده Payback Period لري، معمولاً زیات خطر لري، ځکه د اوږدې مودې لپاره د نامعلومو شرایطو لکه د بازار بې ثباتي، د مصرفوونکو د خوښې بدلون، او اقتصادي رکود سره مخ کیږي. له همدې امله، شرکتونه هڅه کوي داسې پانګونې غوره کړي چې ژر پیسې بیرته ورکړي.
3. **د پروژو ابتدایي ارزونه(Pre-screening Tool):**
د پانګې بیرته راګرځېدو موده اکثر د پانګونې د ارزونې په لومړیو مرحلو کې کارول کیږي، مخکې له دې چې د NPV یا IRRتفصیلي تحلیلونه ترسره شي. دا میتود مرسته کوي چې هغه پروژې حذف شي چې د شرکت لپاره په لنډمهاله کې په ګټه نه وي.

## د Payback Period نیمګړتیاوې

که څه هم Payback یو ګټور میتود دی، خو یو شمیر نیمګړتیاوې هم له ځان سره لري.

1. **د پیسو د وخت ارزښت له پامه غورځوي:**
دا میتود داسې ښیي چې نن ورځ ترلاسه شوي پیسې به راتلونکې کې ترلاسه شوي پیسو سره ورته ارزښت لري، کوم چې د انفلاسیون له مخې صحیح نه دي.
2. **ګټه نه اندازه کوي:**
د بیرته ورکړې موده **Payback Period** یوازې دا په ګوته کوي چې پانګه اچونه څومره وخت کې بیرته ترلاسه کیږي، دغه میتود دا نه ښیي چې پانګه اچونه په حقیقت کې څومره ګټوره ده.

### 3. د لنډمهاله پانګونو انتخاب:

د Payback Period له مخې عموماً پانګوال شرکتونه هغه پروژې انتخابوي چې په هغه کې شرکت خپله لومړنۍ پانګه ژر بېرته ترلاسه کړي. برعکس هغه پروژې چې د لومړنۍ پانګې د بیرته ترلاسه کولو موده یې زیاته وي پانګوال شرکتونه یې تر ډېر نه انتخابوي. اوردمهاله پانګونې کېدای شي د وخت په تېرېدو لوی عواید ورکړي، که څه هم د بېرته راګرځېدو موده یې اوږده وي.

## Profitability Index د ګټورتیا شاخص

کله چې د یوه پانګوال شرکت لپاره په څو پروژو کې هم مهاله د پانګونې فرصتونه برابر وي نو پانګوال شرکت کولای شي، چې د ګټې شاخص(PI) څخه په استفادې د پانګونو ترمنځ غوره انتخاب وکړي؛ هغه حالت کې چې پانګه محدوده وي او باید له څو پروژو څخه یوه انتخاب شي، نو پواخې هغه پروژې باید پیل شي چې د ګټې شاخص(PI) یې تر ټولو لوړ وي. همداراز، د ګټې شاخص(PI) د دې لپاره هم کارېدلی شي چې د یوه شرکت یا یوې څانګې صنعتي څانګې دننه بېلابېلې پروژې سره پرتله کړي.

د هرې پروژې د PI په پرتله کولو سره، یو شرکت کولای شي پرېکړه وکړي چې کومې پروژې د پانګونې لپاره غوره دي او کومې باید وځنډول شي یا حتی لغوه شي. دا له شرکتونو سره مرسته کوي چې خپل منابع په هغو پروژو ولګوي چې لوړ عاید ولري، او له هغو پروژو څخه ډډه وکړي چې کم عاید لري یا زیان ولري.

په ټوله کې، د ګټې شاخص یو مهم میتود دی، چې د مختلفو پروژو د ارزونې لپاره کارول کېږي، او دا له شرکتونو او پانګه‌والو سره مرسته کوي چې د لوړ عاید لرونکو پروژو لپاره دقیق او مؤثر تصمیم ونیسي.

دا میتود تر ډېره هغو پانګوالو لپاره مناسبه ده چې غواړي په اوږدمهاله توګه په سهمونو او بېلابېلو پروژو کې پانګونه وکړي.

## دګټې شاخص (PI) تشریح

د ګټې شاخص (PI) محاسبه منفي نه شي کېدای، نو څکه باید دا شاخص تل مثبت ارزښت ولري تر څو ګټور وبلل شي. که چېرې د PI محاسبه له ایوه څخه لوړه (PI>1) وي، دا ښیي چې د پروژې ټمه شوي نقدي عایدات د نقد شویو لګښتونو (نقدي وتنو) څخه زیات دي او پانګونه ګټوره ده.

که چېرې PI=1 سره وي، نو دا ښیي چې پروژه نه ګټه لري او نه زیان، او مالي ارزښت یې خنثی دی .برعکس، که دا شاخص له 1 څخه ټیټ (PI<1) وي، نو معنا دا ده چې د نقدي وتنو ارزښت له نقد شویو عایداتو څخه زیات دی، او دا ډول پروژه باید د پانګونې لپاره انتخاب نشي. په هغه صورت کې چې پانګه محدوده وي او باید له څو پروژو څخه یوه غوره شي، باید هغه پروژه وټاکل شي چې د تر ټولو لوړ PI شاخص ولري. څکه چې دا ښیي پروژه به د محدودو منابعو څخه زیاته ګټه ترلاسه کړي.

## دګټې شاخص (Profitability Index) محاسبه

**د ګټې د شاخص فورمول**

$$PI = \frac{\text{د راتلونکو نغدو جریانونو خالص ارزښت (PV)}}{\text{لومړنۍ پانګونه}}$$

له دغه فورمول څخه په استفادې پانګوال شرکت کولای شي،چې د پروژې د ګټې شاخص( **Profitability Index**) پیدا کړي د ګټې شاخص د محاسبې لپاره د ارزیابی میتودونو په لومړیو کې د NPV لپاره کار شوی مثال دلته هم محاسبه کوو.

لکه څرنګه چې د لاندې جدول لپاره سناریو د NPV د محاسبې په وخت کې تشریح شوې ده نو له هماغې سناریو څخه په استفادې په لاندې جدول کې د پروژې د ګټې شاخص(**Profitability Index**) محاسبه کوو.

یادونه: د ګټې شاخص(**Profitability Index**) د محاسبې لپاره د فورمول مطابق د پروژې د نقدي جریان یا PV محاسبه کوو، نو دا چې په لاندې جدول کې د هر کال نقدي جریان محاسبه شوی ده اړتیا نشته چې د بیا خل لپاره PV محاسبه کړو.

**مثال**

| کال | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|---|
| فروشات | 3,000,000 | 3,400,000 | 4,000,000 | 4,100,000 | **4,300,000** |
| د موادو خرید | 1,000,000 | 1,500,000 | 1,500,000 | 1,800,000 | **2,000,000** |
| معاشات | 50,000 | 50,000 | 58,000 | 65,000 | **65,000** |
| 4٪ انتفاعي مالیه | 120,000 | 136,000 | 160,000 | 164,000 | **172,000** |
| متغیر مصارف | 500,000 | 510,000 | 515,000 | 415,000 | **600,000** |
| ثابت مصارف | 100,000 | 100,000 | 100,000 | 100,000 | **100,000** |
| ټول لګښتونه | 1,770,000 | 2,296,000 | 2,333,000 | 2,544,000 | **2,937,000** |
| عایدات | 1,230,000 | 1,104,000 | 1,667,000 | 1,556,000 | **1,363,000** |
| %20مالیات پر عایدات | 246,000 | 220,800 | 333,400 | 311,200 | **272,600** |
| خالص نقدي جریان | 984,000 | 883,200 | 1,333,600 | 1,244,800 | **1,090,400** |
| د تخفیف نرخ | 0.909 | 0.826 | 0.751 | 0.683 | **0.620** |
| نغدي جریان یا PV | 894,545.45 | 729,917.36 | 1,001,953.42 | 850,215.15 | **677,052.61** |

$$PI = \frac{\text{(PV)د راتلونکو نغدو جریانونو خالص ارزښت}}{\text{لومړنی پانګونه}}$$

لومړنی پانګونه = 4000000

PV= 894,545.45+729,917.36+1,001,953.42+850,215.15+677,052.61

PV = 4,153,684

$$PI = \frac{\text{(PV)د راتلونکو نغدو جریانونو خالص ارزښت}}{\text{لومړنی پانګونه}}$$

$$PI = \frac{4,153,684}{4000000}$$

$$PI = 1.038$$

$$PI > 1$$

ګورو چې په پورته پروژه کې $PI > 1$ د ګټې شاخص له یوه څخه لوی ده نو بناً ویلی شو چې دغه پروژه د پانګوال شرکت لپاره ګټوره ده او د پانګونې لپاره د منلو ده.

## د ګټې شاخص (PI) ګټې او نیمګړتیاوې

### د ګټې شاخص(PI) ګټې:

1. **د پیسو د وخت ارزښت په پام کې نیسي**

د ګټې شاخص دا اصل په نظر کې نیسي چې د نن ورځې پیسې له راتلونکې پیسو څخه ارزښتناکه ده، همدا وجه ده چې دا شاخص د پانګونې د جذابیت د اندازه کولو لپاره یو غوره معیار ګڼل کیږي، او یوازې پر تمه شویو نقدي جریانونو تکیه نه کوي.

2. **د بېلابېلو موده لرونکو پروژو ترمنځ د مقایسې اسانتیا**

دا شاخص کولی شي داسې پروژې چې د عمر یا د فعالیت موده یې سره توپیر لري، پرتله کړي. ځکه چې دا نقدي جریان نه بلکې اوسنی ارزښت (Present Value) محاسبه کوي.

3. **د پانګې په محدودو شرایطو کې د پریکړې کولو مرسته کوي**

کله چې یو شرکت محدود مالي منابع ولري او نشي کولای چې ټولو ممکنه پروژو کې پانګونه وکړي، نو د ګټې شاخص د پروژو د لومړیتوب ټاکلو لپاره یوه اغېزمنه وسیله ده. چې پانګه اچونکې شرکت سره دا مرسته کوي ترڅو له مالي لحاظه په غوره عاید لرونکې پروژه کې پانګونه وکړي.

### د ګټې شاخص ځینې نیمګړتیاوې:

1. **یوازې ابتدایي پانګونه په پام کې نیسي**

د ګټې شاخص یوازې د پروژې لومړنۍ پانګونه محاسبه کوي، او له هغو دوامداره یا راتلونکو پانګونو څخه سترګې پټوي چې بنایي وروسته پکې اړینې وي. دا چاره د هغو پروژو ترمنځ د دقیقې مقایسې مخه نیسي چې پانګونه‌یې په بېلابېلو وختونو کې کیږي.

2. **د پروژې اندازه یا حجم نه محاسبه کوي**

دا شاخص د پروژې حجم یا کچه نه ارزوي، نو ممکن یوه لویه پروژه چې د ګټې اندازه یې لږه ده، د یوه کوچنۍ خو لوړ ګټورې پروژې په پرتله کم PI ولري.

# د پانګونې د راستنیدو کچه(ROI)

د پانګونې د بیرته راګرځېدو موده (ROI) یو مالي معیار دی چې د پانګونې د ممکنه ګټې اندازه کولو لپاره کارول کیږي.
دا میتود د پانګونې له لارې تر لاسه شوې ګټه یا تاوان د هغې د لګښت(مصرف) سره پرتله کوي.
دا معیار نه یوازې د یوې پانګونې د احتمالي عاید ارزولو لپاره ګټور دی، بلکې د څو بیلابیلو پانګونو د عوایدو د پرتله کولو لپاره هم ډېر ګټور واقع کیږي.
د پانګونې په تحلیلونو کې، ROI کلیدي شاخص دی چې د مختلفو پانګونو د انتخاب جذابیت ارزوي او درجه بندي کوي.
که څه هم ROI یو نسبت دی، خو دا اکثره وخت د سلنې په بڼه ښودل کیږي.

## د پانګونې د راستنیدو کچې(ROI) محاسبه

ROI د شرکت لپاره د یوې پروژې د ګټې سلنه محاسبه کوي چې دغه پروژه د پانګوال شرکت لپاره څو فیصده ګټه لري.
د ROI د محاسبې فورمول په لاندې ډول دی.

$$ROI = \left(\frac{\text{د پانګونې خالص ګټه}}{\text{د پانګونې لګښت}}\right) * 100$$

له دغه فورمول څخه په استفادې پانګوال شرکتونه د خپلې پروژې د پانګونې د راستنیدو کچه(ROI) محاسبه کوي دلته هم لومړنۍ کار شوې سناریو تطبیقوو.

**یادونه:** د پانګونې د راستنیدو کچه(ROI) د محاسبې لپاره د فورمول مطابق د پروژې خالصه ګټه د پروژې په لګښت باندې تقسیموو، چې په لاندې جدول کې دا دواړه برخې مخکې له مخکې معلومې دي.

**مثال**

| **کال** | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|---|
| لومړنۍ پانګونه | 4,000,000 | | | | |
| فروشات | 3,000,000 | 3,400,000 | 4,000,000 | 4,100,000 | **4,300,000** |
| د موادو خرید | 1,000,000 | 1,500,000 | 1,500,000 | 1,800,000 | **2,000,000** |
| معاشات | 50,000 | 50,000 | 58,000 | 65,000 | **65,000** |
| 4٪ انتفاعي مالیه | 120,000 | 136,000 | 160,000 | 164,000 | **172,000** |
| متغیر مصارف | 500,000 | 510,000 | 515,000 | 415,000 | **600,000** |
| ثابت مصارف | 100,000 | 100,000 | 100,000 | 100,000 | **100,000** |
| لومړني لګښتونه | 1,770,000 | 2,296,000 | 2,333,000 | 2,544,000 | **2,937,000** |
| عایدات | 1,230,000 | 1,104,000 | 1,667,000 | 1,556,000 | **1,363,000** |
| 20%مالیات پر عایدات | 246,000 | 220,800 | 333,400 | 311,200 | **272,600** |
| ټول لګښتونه | 2,016,000 | 2,516,800 | 2,666,400 | 2,855,200 | **3,209,600** |
| خالص نقدي جریان | 984,000 | 883,200 | 1,333,600 | 1,244,800 | **1,090,400** |

$$ROI = \left(\frac{\text{خالص نقدي جریان}}{\text{د پانګونې لګښت}}\right) * 100$$

$$ROI = \left(\frac{984{,}000 + 883{,}200 + 1{,}333{,}600 + 1{,}244{,}800 + 1{,}090{,}400}{2{,}016{,}000 + 2{,}516{,}800 + 2{,}666{,}400 + 2{,}855{,}200 + 3{,}209{,}600}\right) * 100$$

$$ROI = \left(\frac{5{,}536{,}000}{13{,}264{,}000}\right) * 100$$

$$ROI = (0.417) * 100$$

$$ROI = 41.7\%$$

ګورو چې په پورته پروژه کې ROI = 41.7٪ د پانګونې د راستنیدو کچه 41.7 سلنه ده نو بناً ویلی شو چې دغه پروژه د پانګوال شرکت لپاره ګټوره ده او د پانګونې لپاره د منلو ده.

## د پانګونې د راستنیدو کچې(ROI) ګټې

### 1. د محاسبې آسانتیا

د ROI محاسبه ډېره ساده ده، او یوازې لږو معلوماتو ته اړتیا لري، هغه معلومات چې معمولاً په مالي راپورونو بیلانس شیټ کې موجود وي.

### 2. پرتله کول

د دې لپاره چې حساب یې ساده دی، کولی شو ROI د مختلفو پانګونو د عایداتو د پرتله کولو لپاره وکاروو، که دا دننه په یوه شرکت کې وي یا مختلفو شرکتونو کې.

### 3. د ګټې ارزونه

ROI په مستقیم ډول له خالصې ګټې سره تړاو لري، او د یوې ځانګړې پانګونې د ګټورتیا په اړه مهم او ګټور معلومات وړاندې کوي.

### 4. پرېکړه کول

د ROI له لارې، پانګوال شرکتونه کولی شي د راتلونکو پانګونو په اړه غوره او باوري پرېکړې وکړي، ځکه دا شاخص د ترلاسه کیدونکې عاید پراساس پانګونې ارزوي.

## د پانګونې د راستنیدو کچې(ROI) نیمګړتیاوې

په ټوله کې د ارزونې دغه میتود د پانګې د ارزولو لپاره یو ګټور میتود ده خو سره له دې هم لاندې نیمګړتیاوې لري.

1. خطر په نظر کې نه نیسي
2. د پیسو د وخت ارزښت او انفلاسیون په نظر کې نه نیسي

# ARR – د حسابدارۍ د عاید نرخ

د حسابدارۍ د عاید نرخ (ARR) د اوږدمهالو پانګونو د احتمالي ګټورتیا د ارزونې یو له مهمو او اغېزناکو مالي میتودونو څخه ده. ARR له شرکتونو سره مرسته کوي تر څو د بېلابېلو پروژو ګټورتیا سره پرتله کړي، دا میتود شرکتونو ته دا توان ورکوي چې د پانګونې د اتکلي ګټې له دقیقې ارزونې وروسته، غوره انتخاب ترسره کړي. دا نرخ پانګه‌والو ته دا زمینه هم برابروي چې خپلې مالي برنامې او بودیجې په ښه توګه تنظیم او د خپلو پانګونو پرمختګ په دقت سره وڅاري. ARR په ځانګړې توګه هغه وخت ډېر ګټور تمامیږي کله چې پانګه‌وال غواړي په اوږدمهالو پروژو کې پانګونه وکړي. ARRیو ساده او مؤثر معیار دی چې د پانګونې د ګټورتیا کچه اندازه کوي.

## د حسابدارۍ د عاید نرخ (ARR) څخه استفاده

شرکتونه د حسابدارۍ د عاید نرخ (ARR) د پانګه اچونې د پرېکړو یا د پانګه اچونې د فرصتونو د ارزونې لپاره کاروي، ARR یوه داسې محاسباتي طریقه ده، چې پکې د پانګونې ابتدایي ارزښت ته پام کېږي، شرکتونه کولای شي له ARR څخه کار واخلي تر څو دا وڅېړي چې یوه پانګونه څومره احتمالي نغدي جریان رامنځته کولای شي.
شرکتونه عموماً له ARR څخه د څو بېلابېلو پروژو د پرتله کولو لپاره استفاده کوي، تر څو د هرې پروژې احتمالي عایداتي نرخ معلوم کړي، او دا پرېکړه اسانه کړي چې کومه پروژه یا پانګونه غوره ده.

## د حسابدارۍ د عاید نرخ(ARR) محاسبه

ARR(د حسابدارۍ د عاید نرخ) یو له مهمو او اسانه میتودونو څخه دی چې د پانګونې د ګټورتیا د ارزونې لپاره کارول کېږي. دا میتود هغو شرکتونوسره مرسته کوي چې غواړي پوه شي یوه پانګونه به شرکت ته څومره خالص عاید (ګټه) ولري، د محاسبې فورمول یې په لاندې ډول ده.

$$ARR = \left(\frac{\text{اوسط کلنی خالص عاید}}{\text{لومړنۍ پانګونه}}\right) * 100$$

د ARR د محاسبې لپاره دوه مهمو عناصرو ته اړتیا ده:

1. د کلني خالص عاید اوسط (Average Annual Net Income)
2. لومړنۍ پانګونه (Initial Investment)

د ARR د محاسبې لپاره له هماغې لومړنۍ سناریو څخه استفاده کوو.

**مثال**

| کال | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|---|
| لومړنۍ پانګونه | 4,000,000 | | | | |
| فروشات | 3,000,000 | 3,400,000 | 4,000,000 | 4,100,000 | **4,300,000** |
| د موادو خرید | 1,000,000 | 1,500,000 | 1,500,000 | 1,800,000 | **2,000,000** |
| معاشات | 50,000 | 50,000 | 58,000 | 65,000 | **65,000** |
| 4٪ انتقاعې مالیه | 120,000 | 136,000 | 160,000 | 164,000 | **172,000** |
| متغیر مصارف | 500,000 | 510,000 | 515,000 | 415,000 | **600,000** |
| ثابت مصارف | 100,000 | 100,000 | 100,000 | 100,000 | **100,000** |
| لومړنۍ لګښتونه | 1,770,000 | 2,296,000 | 2,333,000 | 2,544,000 | **2,937,000** |
| عایدات | 1,230,000 | 1,104,000 | 1,667,000 | 1,556,000 | **1,363,000** |
| 20%مالیات پر عایدات | 246,000 | 220,800 | 333,400 | 311,200 | **272,600** |
| ټول لګښتونه | 2,016,000 | 2,516,800 | 2,666,400 | 2,855,200 | **3,209,600** |
| خالصه ګټه | 984,000 | 883,200 | 1,333,600 | 1,244,800 | **1,090,400** |

دلته ګورو چې دغه پانګونه د پنځو کلونو لپاره شوې، نو لومړی د کلني خالص عاید اوسط پیدا کوو او وروسته یې د فورمول مطابق ARR محاسبه کوو.

$$\text{کلني خالص عاید اوسط} = \frac{\text{پنځو کلونو خالص عاید}}{5}$$

$$\text{کلني خالص عاید اوسط} = \frac{984,000+883,200+1,333,600+1,244,800+1,090,400}{5}$$

$$\text{کلني خالص عاید اوسط} = \frac{5,536,000}{5}$$

$$\text{کلني خالص عاید اوسط} = 1,107,200$$

$$\text{لومړنۍ پانګه} = 4,000,000$$

$$ARR = (\frac{\text{اوسط کلني خالص عاید}}{\text{لومړنۍ پانګونه}}) * 100$$

$$ARR = (\frac{1,107,200}{4,000,000}) * 100$$

$$ARR = 0.2768 * 100$$

$$ARR = 27.68\%$$

د حسابدارۍ د عاید نرخ (ARR) له محاسبې څخه وروسته معلومه شوه چې دغه پروژه کې د خالص عاید اندازه په کلني ډول 27.68٪ سلنه ده.

## د حسابدارۍ د عاید نرخ (ARR) ګټې

د حسابدارۍ د عاید نرخ (ARR) یو ساده محاسباتي میتود دی چې پیچلې ریاضۍ ته اړتیا نه لري، او د یوې پروژې د کلني عاید د معلومولو لپاره ګټور بلل کیږي، ددغه میتود یو شمیر ګټې په لاندې ډول دي.

- اسانه محاسبه:

ARR د ارزونې یو ساده او اسانه میتود ده، چې یو شرکت کولای شي د پانګونې او خالص عاید سره یې په اساني محاسبه کړي.

- اسانه درک:

د ارزونې دا میتود د پانګه اچونکو لپاره په اسانۍ د پوهیدو او درک وړ ده.

- د ګټې ارزونه:

ARR په کلي ډول د یوې پانګه اچونې د ګټورتیا او نا ګټورتیا د ټاکلو لپاره استفاده کیږي.

- د ټول عاید په نظر کې نیول:

ARR میتود د یوې پروژې ټول عاید د پروژې د عمر په اوږدو کې په نظر کې نیسي.

## د حسابدارۍ د عاید نرخ (ARR) محدودیتونه

- د پیسو د وخت ارزښت په نظر کې نه نیسي.
- د اوږد مهاله خطرونو په نظر کې نه نیول.
- انفلاسیون په نظر کې نه نیول

پورته ذکر شوي د پانګونې هغه میتودونه دي چې پانګوال شرکتونه کولای شي له دغو میتودونو څخه په استفادې د هغو پروژو اړوند د پانګونې یا نه پانګونې تصمیم ونیسي چې ورته د پانګونې فرصتونه پکې برابر شوي دي.

# پایله

افغانستان له ګڼو ناخوالو، اوږدو شخړو او سیاسي بدلونونو سره سره یو داسې هېواد دی؛ چې د طبیعي منابعو، کاري ځواک او ستراتیژیک جغرافیایي موقعیت له پلوه خورا د لوړ ارزښت لرونکی دی. د دې هېواد د اقتصادي رغونې او پراختیا برخه کې بهرني او داخلي پانګوال، خصوصي سکتور او امارتي شرکتونه کولی شي مهم رول ولوبوي. د امارتي شرکتونو لپاره افغانستان یو له فرصتونو ډک بازار دی چې له دغه بازار څخه په ګټه اخیستنې کولای شي په مختلفو برخو کې پانګونه ترسره کړي.

د افغانستان شتمني له طبیعي زېرمو، پراخو کرنیزو ځمکو، اوبو، لمر، خامو معدني موادو، او ځوان کاري ځواک څخه عبارت ده. ددې ټولو فرصتونو ترڅنګ، اسلامي ارزښتونه، د شریعت بنسټونه، او د شرعي مالي میکانیزمونو موجودیت د امارتي شرکتونو لپاره یو ذهني او عملي توافق رامنځته کوي، چې دا ټول د یو اسلامي پانګه نیز چاپېریال لپاره لومړني شرایط بلل کېږي. همدا راز، اسلامي امارت د پانګوالو د ملاتړ، د شتمنیو د مصؤنیت، او د یو شفاف حقوقي چوکاټ ژمنه کړې ده، چې دا هم د پانګوالو د باور د راجلبولو لپاره مهم فاکتور دی.

د پانګونې له پاره افغانستان ډېر سکتورونه لري چې تر ټولو مهم یې کانونه، زراعت، انرژي، ساختماني، ترانسپورت او مخابراتي برخې دي. کانونه له هغو سکتورونو څخه شمېرل کېږي چې د افغانستان د راتلونکي اقتصاد د ملا تیر جوړولی شي. د لیتیم، طلا، مس، اوسپنې او نورو فلزاتو زېرمې په نړیواله کچه ارزښت لري. امارتي شرکتونه کولی شي د معادنو د استخراج، پروسس، او صادراتو په برخه کې پانګونه وکړي، خصوصاً که دا بهیر له عصري ټکنالوژۍ او د بازار له تقاضا سره سم ترسره شي.

په کرنیزه برخه کې افغانستان د پراخو نه کارېدلو ځمکو، اوبو او مناسبو اقلیمونو له برکته د پانګونې لپاره یو مساعد چاپېریال لري. امارتي شرکتونه کولی شي د کرنیزو محصولاتو په پروسس، ذخیره، بسته بندي او صادراتو کې پانګونه وکړي، چې نه یوازې به یې داخلي بازار ته ګټه ورسیږي، بلکې د صادراتو له لارې به نړیوالو بازارونو ته هم لاره ومومي. دا کار به د افغانستان د کروندګرو ژوند بدل کړي او یو عادلانه اقتصادي مشارکت ته به وده ورکړي.

همدارنګه، د انرژۍ سکتور، په ځانګړې توګه لمریزه، بادي او د اوبو انرژي، د پرمختګ لپاره خورا مهمه اړتیا ده. د امارتي شرکتونو تخنیکي وړتیا، مالي توان، او تجربې کولی شي د افغانستان انرژي سکتور ته نوې بڼه ورکړي. که چېرې د افغانستان بې‌برېښنا سیمې د پراخې پانګونې له لارې روښانه شي، نو له دې سره به یو د اقتصادي پراختیا بنسټونه قوي شي او بل به د خلکو اعتماد هم ترلاسه شي.

پانګونه یوازې اقتصادي پروسه نه ده، بلکې یو ټولنیز، فرهنګي او سیاسي تعامل هم دی. له همدې امله، امارتي شرکتونه باید د پانګونې ترڅنګ د ټولنیز مسؤولیت اصل ته ژمن وي. د روغتیا، تعلیم، چاپېریال، او ځوانانو د ظرفیت جوړونې پروژې کولی شي د خلکو باور زیات کړي او د پانګوالو لپاره دائمي حضور تضمین کړي. سربېره پر دې، له محلي شریکانو سره ګډې پروژې، د محلي کارکوونکو استخدام، او د اسلامي ارزښتونو رعایت هغه مهم عوامل دي چې د پانګې دوام او پراختیا ته لاره هواروي.

## سرچينې

INVESTMENT_GUIDELINES_FOR_FUND_MANAGERS
https://sec.gov.gh/wp- INVESTMENT_content/uploads/Final-Regulatory-Laws/Guidelines/GUIDELINES_FOR_FUND_MANAGERS.pdf

اقتصاد اسلامي تقي عثماني

https://d1.islamhouse.com/data/fa/ih_books/single3/fa_eghtesad_eslami.pdf

مبانی مدیریت سرمایه گذاری
https://dl.farachart.com/pdf/farsi_book/InvestmentManagement/mabani_rezaSoleimani.pdf

د رياست الوزرا اقتصادي معاونيت
https://dpmea.gov.af/ps/1403-PASHTO-Articles-69

ترتیب کوونکی:
احسان الله احمدي
د پانګونې کارپوه

تصحیح کوونکی
محمد داودپیرزاده
د سوداګریزو پلانونو د تدوین او تحلیل آمر

تائید کوونکی
مفتي عبدالواحد عثماني
د پالیسي اوستراتیژۍ رئیس